# نظر

**سلېمان کامل**





کتاب: نظر
شاعر: سلېمان کامل
چاپ: ستمبر 2013ء
اهتمام: مرکه پبلي کېشنز مردان
خوروونکی: د ادبي دوستانو مرکه مردان

د

# نورالرحمان سحر

په نوم





په دې ذهن مې خوره ده څۀ خبره مودې وشوې
واومې نۀ رېده هېچرته ښه خبره مودې وشوې

ستا انکار له محبته زما زړۀ څۀ سنجيده کړۀ
بيا د خلې نه اېستې نۀ ده دۀ خبره مودې وشوې

هسې څۀ غلط فهمي ده پېدا شوې زمونږ مينځ کښې
لږ ايسار شه لږه واوره تۀ خبره مودې وشوې

په قسم چې ئې هم ناورې چې ئې نۀ منې دا ښکلې
ما سره اوس نۀ دليل شته نۀ خبره مودې وشوې

ستا د شونډو د لذت نه چې محروم هغه کامل شۀ
چا سره ئې غواړې نه اوس زړۀ خبره مودې وشوې
اوله جولايي ۲۰۱۳ء



Pukhto.Net

زړهٔ ته مې بلها شې وسوسې راشي او لاړې شي
ستا په حقله څومره اندېښنې راشي او لاړې شي
ستا د راتلو خيال سره مسکۍ هوا راوالوځي
زړهٔ ته د سکون يو څو لمحې راشي او لاړې شي
تا ته به نن وايم چې له ما نه په شا کېږه مه
دغه شان خبرې مې تر خلې راشي او لاړې شي
ځوان يمه، بوډا شم، بيا وړوکے بيا زلمے شمه
لږ ساعت کښې څومره زمانې راشي او لاړې شي
ما سره ترلے حقيقت د مينې داسې دے
تا سره ترلے افسانې راشي او لاړې شي
مونږ په وړوکوالي څومره لوي وو بيا به لوي نهٔ شو
ورځې شپې کهٔ ډېرې د مزې راشي او لاړې شي
ستا وړومبے نظر به د کامل نظر بدل نهٔ کړي
نورې کهٔ هر څومره حادثې راشي او لاړې شي
۲۳مه مئي ۲۰۱۳ء





عشق يو سوال دے کهٔ مې دا د خلې نه وځي
زندګي به مې بېخې د ښې نه وځي

يو سړے چې خبرلوځ دے د ملکونو
په ليدو مې د الف او بې نه وځي

هَو ښائست ئې د پخو ګټو قلا ده
ژوند مې تېر واخله چې څو د دې نه وځي

دا زړګے به مې رڼا د سحر وينې
دې کهٔ دا ځل ستا د نيت د شپې نه وځي

بيا به هم د کامل مينه زړه نهٔ شي
کهٔ دې حسن د يوې پېسې نه وځي
۱۴مه مئي ۲۰۱۳ء



Pukhto.Net پښتو

تهٔ مې سپوږمۍ بې او زهٔ ستا په رڼا ځمه په لار
جهان تورتم دے ولې بيا هم رسا ځمه په لار
بدو ته بد وايمه، ښو ته چې تل ښهٔ وايمه
ملك د پښتو دے ما ته ګوره اشنا ځمه په لار
ژړا د عمر د يارۍ د باور لاس راکړے
هسې کهٔ وينې مې چې زهٔ په خندا ځمه په لار
يوه مې زمکه د پښو لاندې بل په سر اسمان وهٔ
دواړه کهٔ نشته خو ئې زهٔ په دعا ځمه په لار
ستا د ديدن د لېونتوب له زوره اوس خبر شوم
عجيبه چل دے چې درځم په هوا ځمه په لار
"بېګاه" دې ځې د خپل وحشت د غېږې خوب له دې ځې
زهٔ په درك د نوي ژوند د سبا ځمه په لار
ذره وجود لرم کامله د رتې برابر
سترګو کښې نغاړم په منونو ښکلا ځمه په لار
۲۵م اپریل ۲۰۱۳ء





## د خپل پلار په قبر

د اوښکو ملغلرې راسره دي ښې پرېوانه
راوړې مې د سترګو په جولو کښې دي جانانه
هن واخله دا دي واخله ګنې ټولې راتوئېږي
د زړهٔ لپه مې ډکه ده نيولې درته خانه

د خپلې بې ارزۍ څادر مې تا له دې راوړے
زما او ستا د مينې سرمايه پکښې خوندي ده
ستا تللو ته چې داسې لېوالتيا اخر په څهٔ وه
زما هم ستا ليدو ته اوس بېخي ډېره تادي ده

زما يوائې ځان زما د زړهٔ نا قلارې ده
له ما نه کهٔ چاپېره ډك ځنګل دے د سرونو
يو تهٔ وے چې به ستا د ذات په سېورې په امان وم
نور دلته خو روان دے جنګ د خلقو د نيتونو

د مرګ د اژدها سره دې ځان داسې اشنا کړهٔ
چې تلے نو راته وهٔ دې وې چې لاړم درنه ځويه
زما په وېنا کله ستنبدے له خپلې لارې
چې زهٔ دې هم د ځان سره بوتلے وے نو بويه

زما سره خو فقط یو د شعر ملکه ده
زما سره نور څهٔ دي چې ئې ستا له سره ځار کړم
هم دا نذرانه واخله دا ډالۍ مې ده راوړې
او زهٔ به هغه ستا محبت ځان سره ایسار کړم

یم دغسې به ناست ستا د دعا کرلي بڼ کښې
د ځان سره به ستا د ښکلي یاد ثنا خواني کړم
ستا هجر چې چورلټ راله مات کړے د ملا تیر دے
نیمګړے دې کړم زهٔ به نوره څهٔ پالواني کړم

بس څه په دې صلا ده چې زهٔ هم تا له درځمه
زما په طمع اوسه کهٔ زهٔ ستا په طمع نهٔ یم
د هجر د دې تورې شپې علاج به هسې وایم
ستي چې ستا د مینې د رڼا په شمع نهٔ یم

له ما نه رضا تلے یې خو زهٔ چې مرور یم
جهان رانه خبر دے چې له ځانه نا خبر یم

۱۲م اپریل ۲۰۱۳ء
د وفات نېټه: ۲۵مه فروي ۲۰۱۳ء





د ګل په مخ چې د عذاب شدت ته نهٔ ودرېدهٔ
دغه احساس د خپل وجود عظمت ته نهٔ ودرېدهٔ

ژوند د وفا د لارې ستړے مسافر دے ښهٔ دے
څو چې روان دے د قلارې نیت ته نهٔ ودرېدهٔ

د پاغوندې په څېر ئې سپینه خلهٔ په وینو رنګ شوه
زما ارمان زما د شونډو ست ته نهٔ ودرېدهٔ

زړهٔ مې د وېښې د عمل د روزګار ورک لېونے
د خوبولي تصور جنت ته نهٔ ودرېدهٔ

دلته کښې هر سړي د بل سبورے په ګټو ویشتهٔ
کامله دلته څوك هم خپل قامت ته نهٔ ودرېدهٔ
۱۰م نومبر ۲۰۱۲ء

Pukhto.Net پښتو

کۀ هزار ځله مې وژنې ستا اختيار دے
محبته دغه ښکلے زما يار دے

نۀ جاروځم زما سر په دغه لار دے
محبت زما ايمان زما روزګار دے

اوس د سترګو لګېدو ځاے پکښې نشته
بدل شوے ټول موسم د دغه ښار دے

کوم ښائست دے چې د زړۀ نه مې بهر دے
کوم کافر دے چې له مينې ئې انکار دے

ثنا خوان ستا د ښائست ګوته په خلۀ دي
ستا کامل چې شعر وايي په چغار دے
۲۷مه جولايي ۲۰۱۲ء





زما شناخت خو ستا د ذات د حوالې نه بغېر
داسې به وي لکه سړے چې وي د خلې نه بغېر

د سباني سينګار ترون په ائينه کښې د نن
ممکن به نۀ شي د پرون د سلسلې نه بغېر

د بېګاني خوب د تعبير امکان ډاډه کړمه ډېر
خداے به رضا کړي هغه ښکلے د جرګې نه بغېر

هسې سوچ وړے وم له ځانه سره لرې لرې
کۀ اشنايي شي د بيلتون د فاصلې نه بغېر

دې کښې د ټولې نړۍ خلق متفق دي سره
هېڅوک کامل نۀ دے د عشق د مدرسې نه بغېر
۲۰م اکتوبر ۲۰۱۲ء



Pukhto.Net پښتو

# خوب او خیال

د ښاغلی روښان یوسفزي د کتاب"د رڼا خوب" د مخکتنې د دستورې په مناسبت، پرېس کلب مردان کښې ۲۰م اپرېل ۲۰۱۲ء واورولے شۀ (کامل)

د دې دور دروېزه له خبر ورکړئ
پښتونخوا کښې خدا ے یو بل روښان پېدا کړۀ
هغۀ هم یو خوب لیدلے د رڼا دے
پښتنو د ازادۍ ارمان پېدا کړۀ

کۀ مو یاد شي ګوډ تېمور چې چجه وکړه
چاړۀ ښخه په سینه ئې د افغان کړه
چې د وینو په دریاب باندې راتېر شۀ
پښتونواله ئې اخته په وېر د ځان کړه





فرید خان راله څۀ پوزه قدرې کښېښوه
خو د موم نه جوړه پوزه وه شوه ویلې
ایران راوست همایون په بدرګه کښې
دوباره ئې راله زړۀ کښې وېستې کیلې

مغلي بېربل چې سر وخوړ بونېر کښې
لبمه تاو شوه د اکبر په ککرۍ کښې
چې ئې بند تړۀ زمونږه د تړلو
پېر بابا ئې راله راکړۀ په ډالۍ کښې

کاڼي ګرام کښې چې شوه پورته بله کریکه
غوږ ئې ټینګ نۀ کړۀ مغل شور ته او زور ته
چې ئې بله هره هڅه شوله شنډه
دروېزه ئې راپسې راوستۀ کور ته

د خوشحال د رزم بزم تر دورانه
کله سر د مغل مات کله زما مات

هر تحریك مې د نفاق بهیر کښې لاړهٔ
زور مې وهٔ خو نظر نهٔ کړهٔ راله چا مات

احمد خان مې د کور پولې کړې معلومې
خو دننه پکښې چور او تالان ګډ وهٔ
پښتو ژبه ئې دربار کښې ممنوعه وه
زمان شاه وهٔ کهٔ شجاع په تاوان ګډ وهٔ

له رنجیته، له پېرنګه راپه دې خوا
خوش بختي مې یوه نشته چې ئې زباد کړم
خو وهل مې دي خوړلي په خپل کور کښې
بې له درده داسې څهٔ دي چې ئې یاد کړم

د اسلام، اسلام اباد اول کافر کړم
بیا ئې تور د غدارۍ راباندې کښېښود
په ملا او په قاضي ئې کنډ کپر کړم
بیا ئې خپل نیازبین طالب په ما راپرېښود





د جهان د جنګیالو قطار ئې جوړ کړهٔ
راپسې ئې اواز وکړهٔ ترهه ګر بې
خېراتونه د دنیا په ما رامات شول
وابې هائې هائې په خپل کور کښې در په در بې

زهٔ په داسې حال کښې خوب د رڼا وینم
چې تیارهٔ رانه چاپېره په هر خوا ده
سپین کابل په وینو سور له درده شین دے
په ویر ګډه دلته واړه پښتونخوا ده

د دې دور پښتنو له خبر ورکړئ
زمونږ مینځ کښې خداے یو بل روښان پېدا کړهٔ
هغه خپله برخه خوب د رڼا ولید
کاش کهٔ مونږ د ازادۍ ارمان پېدا کړهٔ
***

زهٔ نهٔ یمه خبر له خپله حاله لا تر اوسه
خو تهٔ یې ما ته وایې چې بد حاله لا تر اوسه
بنیاد دې ښوره شوے، ریژېدلے له مودو دے
تهٔ څنګه یې ولاړ زما دېواله لا تر اوسه
هر ښکلي ته مې کښېښودې په وړاندې څو څو واره
چا حل نهٔ کړې زما د مینې سواله لا تر اوسه
جمال دې د نېستۍ د سمندر په اور کښې سوزي
بېدار د پښتونخوا نهٔ شوې جلاله لا تر اوسه
د مینې د سپرلي د سحر باده لېونیه
دا ولې تهٔ را نهٔ غلے زما خوا له لا تر اوسه
ګرېوان د مغل نهٔ شهٔ پاره هغسې سالم دے
پوره نهٔ شهٔ ارمان دے اے خوشحاله لا تر اوسه
دنیا درنه په سترګو کښې پوښتلي دي کامله
یې ولې بې هنره بې کماله لا تر اوسه
۳۱مه جنوري ۲۰۱۲ء





له درده اٰه قدرې کوے نهٔ شي سړے دلته کښې
دومره پوهېږمه اشنا څهٔ چل خو دے دلته کښې
توره تیارهٔ په رڼا ورځ راخوره شوې چې ده
د چا د زړهٔ نه دے ختلے اسوېلے دلته کښې
په دې کښې هېڅ اختلاف نشته د وېنا تر حده
هغه د ګڼو امسا ده د یو ګېډے دلته کښې
د مرګي راج د ژوند په ښار کښې هنګامه کړې ده
په مړو حساب دے هر سړے کهٔ دے ژوندے دلته کښې
له ما نه ورك دے كهٔ هر څو مسكن مو يو دے سره
له ځانه ورك نهٔ دے ششتے دے كهٔ رېدے دلته كښې
په ځان ځانۍ اخته عالم ته بل څوك كله ښكاري
هر چا ته خپل ځان هم كهٔ وايې دے پردے دلته كښې
كامله څه چرته د مينې د ځنګل په طرف
هر چا نيولے دے د برېتو نه زمرے دلته كښې
۳۱مه جنوري ۲۰۱۲ء



Pukhto.Net

سندرې به مې خامخا د خلې نه راوتې
دا تهٔ چې د خپل ذات د دائرې نه راوتې
زهٔ داسې سر وهلے بر وهلے تلم په لار
تهٔ داسې سنبال کړے د کوټې نه راوتې
يو وخت مې هم د مخې نه په ډډه نهٔ شوې تهٔ
هر وخت مې تهٔ د شعر د معنې نه راوتې
هم دا ابِ حيات وهٔ چې مرګي به ئې وژل
هم دا اوبهٔ د مينې د چينې نه راوتې
زهٔ کله تا ته نهٔ ومه اتړال د تلو په وخت
تهٔ کله د رقيب د بدرګې نه راوتې
ما څکه وظيفه کړهٔ محبت تا ته اشنا
په دې خو تهٔ د وهم د تيارې نه راوتې
کامله څهٔ په چټك قدمونو ژوند له تلې
ليدے مې چې د خيال د هديرې نه راوتې

اول دسمبر ۲۰۱۱ء





# امام حسينؑ ته نذر

د ستائينې د لفظونو قحط سالي هم داسې نهٔ وه
چې ئې وستايم اسانه ستا سيالي هم داسې نهٔ وه
چې به مثل ئې پېدا کړم په دې کل واړه عالم کښې
هَو ستا ننګ او ستا مړانه مثالي هم داسې نهٔ وه
ما جهان درست راپره کړهٔ له ادمه تر دې دمه
چې به تا سره ئې سيال کړم يو هستي هم داسې نهٔ وه
د تعريف له حده اوړي د تشريح حساب ئې نشته
ستا ادا له جمال ډکه جلالي هم داسې نهٔ وه
لکه تا سره چې وشو لکه تا باندې چې وشو
د انسان په ټول تاريخ کښې پامالي هم داسې نهٔ وه
لکه روح د کائنات نه چا وېستلے وي په زوره
په دې ورځ د ملائيکو ملالي هم داسې نهٔ وه
سړے ځان ته شرمنده شي، سړے ځان سره کچه شي
مرتبه چې د انسان ده زوالي هم داسې نهٔ وه
چې د کرب او بلا ذکر تا کوهٔ او څوك به روغ وو
نو کامله ستا وېنا خو کمالي هم داسې نهٔ وه

۲۹م نومبر ۲۰۱۱ء



Pukhto.Net

درد مې په ځيګر پورې نيولې دے او ګرځمه
اور مې په ټټر پورې نيولې دے او ګرځمه
فکر مې د درستې نړۍ سېل پسې الوتے دے
زړهٔ مې پېښور پورې نيولې دے او ګرځمه
دېر خلق مې مخې ته دي هر ساعت د ژوند په لار
يو کس مې نظر پورې نيولې دے او ګرځمه
روح مې په ماښام کښې د ګلونو په سېل نهٔ وځي
فال مې په سحر پورې نيولې دے او ګرځمه
زهٔ د يويشتمې پېړۍ څهٔ عجب سړے يمه
امن مې په شر پورې نيولې دے او ګرځمه
تهٔ مې ازاد پرېښے يې کهٔ هر چرته له ما نه ځې
ځان مې ستا په در پورې نيولې دے او ګرځمه
عقل مې خپل زړهٔ سره کامله په شر پرېښے دے
عشق مې په سر پورې نيولې دے او ګرځمه
۲۴م نومبر ۲۰۱۱ء





داسې ښهٔ دے دا ښهٔ دے
ما ته په خندا ښهٔ دے
باد ئې ختهوکے وړي
زړهٔ مې په هوا ښهٔ دے
خلقو دروغ نهٔ وئيل
يار خو په رښتيا ښهٔ دے
مينې چې مې راوړهٔ رنګ
اوس ژوندون زما ښهٔ دے
ما سره ناجوړه شي
ما نه لرې جدا ښهٔ دے
ښکاري خو ساده باده
پوهه په ادا ښهٔ دے
زهٔ کامل کهٔ بد يمه
شکر دے اشنا ښهٔ دے
۱۱م نومبر ۲۰۱۱ء

خومره سنګین صورتِ حال د بیلتانهٔ راپېښ دے
چا هم ونهٔ وې  چې زوال د بیلتانهٔ راپېښ دے
ستا د جمال په ننداره پسې مې سترګې وځي
د زړهٔ په کور کښې مې جنجال د بیلتانهٔ راپېښ دے
د جهان ټول غمونه ځان سره تړلي راوړي
د وخت ستم جوړ په مقال د بیلتانهٔ راپېښ دے
په اتڼ بوخت ځوانانو یو بل سره کونجې ورکړئ
ښکاري څوك دې خوا په دمال د بیلتانه راپېښ دے
نهٔ ئې د خلې نه غږ وځي، نهٔ راته بره ګوري
په ما راپېښ خو په مثال د بېلتانهٔ راپېښ دے
زما د نوم سره زما د مینې ذکر کوي
څوك دے چې داسې په احوال د بیلتانهٔ راپېښ دے
اسانه نهٔ ده د کامل نه د جواب غوښتنه
ګرانه زمونږ په مینځ کښې سوال د بېلتانهٔ راپېښ دے
۲۲م اکتوبر ۲۰۱۱ء





د ژوند په پته باندې پوهه شوې کهٔ نه جانانه وه جانانه
ما درته ټول عمر به وې زما منه جانانه وه جانانه

څوك چې بې پته شي یارۍ کښې نو له قامه وځي
په پښتنو کښې ئې بیا نهٔ شي بخښانه جانانه وه جانانه

ما له د نورو منزلونو درك مهٔ راکوه، نهٔ ځم ورته
زما حرم، زما کعبه ستا استانه جانانه وه جانانه

څهٔ له به سترګې د بل لورې ته کړې نیسمه، څهٔ حاجت دے
چې مې جذبه د محبت ده پښتنه جانانه وه جانانه

ننۍ ورځ د انتظار اذیت څنګه کړه کامل څهٔ وایي
ننۍ ورځ راباندې ډېره ده درنه جانانه وه جانانه
۱۴م اکتوبر ۲۰۱۱ء



Pukhto.Net

د تقدس او احترام په پل درغلے یمه
لږ مې سېراب کړه محبته جل درغلے یمه
چرته خړپوسې، چرته زغل، چرته په تول د مېږې
په ډېر کړاو، په ډېر هنر په چل درغلے یمه
د ملامتې د هوا تنها چپه نهٔ یم زهٔ
د خپل احساسه سره یاره مل درغلے یمه
تهٔ په وسواس کښې مبتلا مهٔ اوسه پوۓ شوې کهٔ نه
زهٔ په لباس کښې د پښتو غزل درغلے یمه
اوس ستا اختیار دے کهٔ مې نولې کهٔ راټول مې ساتې
لکه په لاس چې د کمڅۍ د ول درغلے یمه
دلۍ دلۍ، امبار امبار مې دي راوړي اشعار
ستا تر ستانې پورې کهٔ هر څو دل درغلے یمه
مزل کهٔ ګران دے خو ارمان مې بې مرامه نهٔ دے
کامله یو ومه خو یو په سل درغلے یمه
۲۵م ستمبر ۲۰۱۱ء





مونږ یو د ژوند په بیلو بیلو ډګرونو ولاړ
زهٔ په ازغیو باندې ولاړ تهٔ په ګلونه ولاړ
سر ړقول ترې نه د یو کس هم ممکنه نهٔ ده
هغه یو کس چې دے زمونږه په سرونو ولاړ
زهٔ ترې نه لاندې ناست په سپورې ئې خپل سر پټوم
زما د کور دېوال د خداے په قدرتونو ولاړ
لۍ دې په زېر وي کهٔ په بم خو تهٔ خبرې کوه
چې مې مکان د ژوندانهٔ دے په سازونو ولاړ
تهٔ د سپرلي تهٔ د خزان په هوا سور بې روان
زما زړګے ستا د اعتبار په موسمونو ولاړ
زما مجال څهٔ دے اشنا چې به ئې نهٔ وایمه
زېب او زینت ستا د ښائست دے په شعرونو ولاړ
هغه کامل چې د لوظونو په فرېب ژوندے دے
هغه کامل د انتظار په انګارونو ولاړ
۲۲م اګست ۲۰۱۱ء

پــه ژوند مئين خلق اوس مرګ ته اوازونه کوي
مانه هم خلق په دې حقله تپوسونه کوي

عمل د ګل د تخليق دلته کښې ولاړ نهٔ دے لا
سپرلے راځي خو زمونږ سترګو کښې ګلونه کوي

محبتونه هم قحط شوي عنقا شوي نهٔ دي
خلق د خېټو ډکېدو محبتونه کوي

زما نظر ولوړو وهلے دے خو تا پرې وينم
ستا د نظر چاودنې زړونو کښې چاودونه کوي

دلته به امن راشي دلته به ساه واخلي خلق
ښکلي نن بيا څومره شيرين شيرين سوالونه کوي
۱۰مه مئي ۲۰۱۱ء





سپوږمۍ مسکۍ ده ستوري هم دي له حجابه بهر
خوشبو نخا کوي، چورلك خوري له ګلابه بهر

د سپرلي ورځې دي، رنګونه ځان کښې نهٔ ځائېږي
د مستۍ شپې دي تهٔ راځه کنه جنابه بهر

مئين به ځي د محبت د بازارونو په سېل
مونږ دواړه هم نهٔ يو له دغه انقلابه بهر

چې هر يو حرف ئې محبت دے، هر يو لفظ ئې مينه
زما خو زده نهٔ دے مجلس له دې کتابه بهر

چې د کامل د سترګو سوال داسې مشکل هم نهٔ وهٔ
ښکليه ولې داسې ګرځې له جوابه بهر
۲۵م مارچ ۲۰۱۱ء



Pukhto.Net

ډېر لرې چرته لرې له خپل ځانه له جهانه
زۀ ناست يم ستا په ياد کښې په جانانه له جهانه

د عمر درازي مې ځان له چرې غوښتې نۀ ده
راځه کۀ مې وړې، زما ارمانه له جهانه

زما سمه خبره خلقو کله ده منلې
زما سودا همېش ده له تاوانه له جهانه

نفرت به ځنګه ورك شي د دې کلي د کوڅو نه
جنت به ځنګه جوړ شي په انسانه له جهانه

تا څۀ دي په زړۀ وړي زۀ پرې ولې خبر نۀ شوم
هائې هائې زما کامله زما خانه له جهانه
۲۲م مارچ ۲۰۱۱ء





**نعت**

څۀ خوشګواره څادثه وه ستا بعثت جانانه
تا کړۀ په مينه باندې پوۀ انسانيت جانانه
تۀ چې زما شفيع کېدے شې د محشر په شر کښې
کۀ زۀ په تا نۀ شم قربان يم ملامت جانانه
تۀ مې نبی، تۀ مې ولی، تۀ مې رهبر پېغمبر
دغه مې زړۀ، دغه مې سوچ، دغه مې نيت جانانه
زۀ دې سپاهي، زۀ دې غلام، زۀ دې مئين په کلام
ستا باچاهي مې ده د زړۀ په مملکت جانانه
تۀ مې استاځے يې د عرش معلیٰ د سفر
تۀ مې وزر يې او هنر مې د الوت جانانه
زۀ ستا د در نه پروانه د ازادۍ غواړمه
زۀ چې شم کله ګرفتار په مصيبت جانانه
ستا د کامل دا څو شعرونه ستا د نوم صدقه
کۀ ئې قبول کړې په خپل در دا محبت جانانه
۵مه فروري ۲۰۱۱ء



Pukhto.Net

زهٔ محبت ته سنجيده يم په ما شك مهٔ كوه
زما په مينه، په خلوص، په وفا شك مهٔ كوه
كركه تيارهٔ ده په تيارهٔ كښې بلاګانې ګرځي
مينه رڼا ده لېونۍ په رڼا شك مهٔ كوه
زړهٔ زما هسې هواګير دے لور په لوري ګرځي
تهٔ دې د زلفو د سپرلي په هوا شك مهٔ كوه
له شوره نهٔ جاروځي ستا د بنګړو ډكې لېچې
هسې زما د پاګل زړهٔ په درزا شك مهٔ كوه
چې انګازه دې د ښكالو د ترنم خوره ده
تهٔ خو بېخي د خپل پائل په نوا شك مهٔ كوه
رنګ به راوړي محبت خوند به جوړوي د ژوندون
شپه به وړي په راختونكي سبا شك مهٔ كوه
ستا د ښائست، ستا د ځوانۍ دراز عمري چې غواړي
د خپل كامل د شاعرۍ په دعا شك مهٔ كوه
**۲۵**مه جنوري ۲۰۱۱ء





اظهار د شرافت د دائرې نه هم وباسي
اشنا زما نامه د تذكرې نه هم وباسي

جواز د نفرت ګوري كهٔ ئې ومومي، له ما نه
دليل د محبت د پېرايې نه هم وباسي

دا پاتې څو يادونه دي دا هم زما نه اخلي
دا پاتې زندګي ده ما د دې نه هم وباسي

څوك څهٔ له چا ته حال د محبت د زړګي وايي
څوك خپله حيا ولې د پردې نه هم وباسي

كامل چې ئې په كل واړه عالم كښې تماشه كړهٔ
اوس ځې پېښې د مېدان د تماشې نه هم وباسي
۱۱م اګست ۲۰۱۰ء



Pukhto.Net

نظر کښې ائنيې دي کۀ نظر په ائينه کښې
راګير دے له څۀ وخته زما سر په ائينه کښې
ښائست وينځي د ښکلو د رڼا په شعاګانو
خدائے ابښے دے عجب غوندې اثر په ائينه کښې
د ګونجو د تندي نه اندازه سړي ته لګي
له ځانه سره کړے ئې دے شر په ائينه کښې
جلال بخښي د حسن د ادا رنګ او رڼا ته
جمال په ائينه کښې دے، جوهر په ائينه کښې
خبرې ئې زما د سر د پاسه ځي الوځي
وهلے ئې د خيال مارغۀ دے پر په ائينه کښې
بيلتون د ورځ په نيمه کښې هم ډوبه تيارۀ راوړه
وصال شۀ تصور کښې د شپې نمر په ائينه کښې
کامله د شعرونو د لفظونو مينځ کښې کښېنه
رايو ځائے شۀ د ښکلو ټول ټبر په ائينه کښې
۱۴م جون ۲۰۱۰ء





زۀ کله هم د دې خوش بينۍ ښکار نۀ يمه پاتې
چې زۀ ګنې د چا د سترګو خار نۀ يمه پاتې

د مينې د دولت فراواني مې شته نصيب کښې
په دې حقله زۀ هېچرته کښې خوار نۀ يمه پاتې

زۀ ستا د نېك خواهانو د پښو خاورې يم جانانه
زۀ ستا د بدخواهانو منت بار نۀ يمه پاتې

زما د حيا شين د ښترنو څادر وسوۀ
يارانو زۀ اوس هغه کړه مار نۀ يمه پاتې

خبر نۀ يم چې څۀ خبره وه د دواړو مينځ کښې
هغه راته نن وې د کامل يار نۀ يمه پاتې
۱۲م جون ۲۰۱۰ء

حال د زمانې دې راته ونۀ وې
راز د يارانې دې راته ونۀ وې

نورې دې وعدې د راتلو ونۀ کړې
نورې افسانې دې راته ونۀ وې

مستې دې خبرې راته ونۀ کړې
مستې ترانې دې راته ونۀ وې

بيا دې رانه ونۀ غوښتۀ سر زما
بيا د نذرانې دې راته ونۀ وې

نن خو دې کامل ته شونډې ست نۀ کړې
نن د مېخانې دې راته ونۀ وې
**۲۵مه مئي ۲۰۱۰ء**



Pukhto.Net



کم عقل تور وي او کۀ سپين ترې نه خبر نۀ يمه
د عقلمندو په شمېره کښې زۀ اکثر نۀ يمه

د محبت د جوارۍ په داو کښې تلے کۀ يم
لا صبر نۀ يم، لا دا وولم لا راسر نۀ يمه

شپې به اخستے يم، تيارو به راګېر کړے هم يم
خو داسې نۀ ده چې په طمع د سحر نۀ يمه

داسې يوه لحظه حرام شه په ژوندون کښې زما
چې ستا په ياد کښې د خپل ځان سره په شر نۀ يمه

ما له د سر د ټيټولو طريقه نۀ راځي
نور دې د حسن له عظمته زۀ منکر نۀ يمه
**۲۵مه مئي ۲۰۱۰ء**

زمونږ په محبت کښې انتشار خو داسې نۀ وۀ
دا زۀ چې پرې مئين يم زما يار خو داسې نۀ وۀ

اوس ماله اذيت راکوي بې اوره مې سېزي
زما د زړۀ بادشاه زما سرکار خو داسې نۀ وۀ

سبب چې د نفرت ګرځي د خپلې زندګۍ نه
په شوندو د جانان چرې انکار خو داسې نۀ وۀ

وحشت راوړي د ځان سره د ويرې په لمن کښې
دا باد ئې د زلفانو د بهار خو داسې نۀ وۀ

وعدې ئې په کلونو کړې اوږدې د راتلو لارې
سر وخوره دا زړۀ سترے انتظار خو داسې نۀ وۀ

اوس ځان ورته په خپله لاس ترلے ږدي په مخکښې
کامل چرې د حسن خرېدار خو داسې نۀ وۀ
۲۸م اپرېل ۲۰۱۰ء





تور ستا په انځور پورې کول له کفره کم نۀ دي
بد وئيل جانانه ستا په سر قسم دے سم نۀ دي

تا ته چې کاږۀ ګوري ځوك تاته چې ښۀ نۀ ګوري
دا خلق كۀ هر ځوك دي خو ياره محترم نۀ دي

ليکي به ستائينې ستا د حسن د سپرلي د باد
ځو چې مې دا ګوتې د دې وخت له خوا قلم نۀ دي

ستا د تلو يوې خبرې غرېو راله مات کړے دے
وګوره تر اوسه لا شبېې د باران تم نۀ دي

زۀ چې پکښې ستا کامل ښائست ته خراج وايمه
ځکه خو زما شعرونه ګران نۀ دي مبهم نۀ دي
۲۲م اپرېل ۲۰۱۰ء



Pukhto.Net

د زندګۍ د بې اعتباره موسمونو يار دے
زړۀ مې خزان پسې د تلونكو بهارونو يار دے

والوځي، وګرځي دمې له هم ځاے ونۀ مومي
زما د خيال مارغۀ د كومو وطنونو يار دے

ګل دې شي، را دې شي زما غېږ كښې دې وغوړېږي
ښكلے كۀ هر څوك دے، د هر څنګ ګلشنونو يار دے

سترګې دې مۀ كوزوه ياره، بانۀ مۀ ټيټوه
زما تندے د جګو جګو سنګينونو يار دے

كامل خبر دے چې د مينې عظمت څۀ ته وايي
كامل د مينې د دنيا د حسرتونو يار دے
۱۵م اپرېل ۲۰۱۰ء





زما د روح دننه كومه يو سانده شوري
د كوم ارمان اظهار كوي چې داسې تانده شوري

هره جذبه د محبت ځان لټوي لګيا ده
هره سلګۍ د اوښكو ډكه ده ځلانده شوري

خال د ابرو دې ځان كښې هسې غزونې وكړې
داغ د زړګي مې ځان كښې ورك شۀ لالهانده شوري

تۀ خپل رنګونه بدلوه لكه سرۀ شنۀ د ګلاب
زما وجدان، تۀ ورته هسې رنګ له خانده شوري

هره ادا د ښكلو هسې شاعري زېږوي
هره خاموشه څهره دلته ده ويانده شوري
۲۸م مارچ ۲۰۱۰ء



Pukhto.Net

## تصویر د شاه ملنګ

د اروانښاد اجمل خټک په یاد کښې

زما خپل لیونې تاریخه اوس دې چرته یوړم
د کومو هواګانو په سینه کښې دې تحلیل کړم
د کومو صحراګانو په ګردونو کښې دې ورك کړم
د کومو ګردابونو په تیارو کښې دې علیل کړم

زما د نظم زاره ټپې روح دې راله څۀ کړۀ
نغمه د حسن څۀ شوه، غزل خوان دې راله څۀ کړۀ

بې ځایه دې کړم ځاے مې راته وښایه چې څۀ شۀ
بې ځانه دې کړم وایه کنه ځان دې راله څۀ کړۀ

د بل د زړۀ درزا کښې چې بې څارے درزېدۀ به
د خپل زړۀ د جاګیر هغه لوے خان دې راله څۀ کړۀ





زما د هغه تورې ورځې سپینه رڼا څۀ شوه
زما د هغه سرې ډولۍ ارمان دې راله څۀ کړۀ

د ډېرو تاوانونو اموخته هنر مې څۀ شۀ
د ګټې د امکان هغه تاوان دې راله څۀ کړۀ

فغان مې د سندرې د رباب له تاره ووت
حېران دې کړم په ځان پورې جانان دې راله څۀ کړۀ

همت چې ئې نرتوب وۀ عبارت له حرکته
زما د هغه سپینې ږیرې ځوان دې راله څۀ کړۀ

د ولوړو او د تندو په تاودو او په سړو کښې
د صبر او د شکر امتحان دې راله څۀ کړۀ

"پاګل ومه" هو "چغه د غېرت" به مې وهله
"په ګل او په پرهر" کښې ګل خوبان دې راله څۀ کړۀ

جرګه او مرکه مې د ساهو ساهو لیکونکیو
پښتو دې راله څۀ کړه دبستان دې راله څۀ کړۀ

ادراك د روښاني تحريك تاريك خو داسې نهٔ وهٔ
احساس د سلسلې د خوشحال خان دې راله څهٔ کړهٔ

نه نه زما اواز داسې ډوب شوے کله نهٔ وهٔ
هَو هَو د مرۍ زور د ژبې توان دې راله څهٔ کړهٔ

د يو قدم او يو اواز په شور کښې دې تحليل کړم
تصوير د شاه ملنګ وهٔ شاه افغان دې راله څهٔ کړهٔ

زما د ډډ ګوګل اواز په سانده کښې بدل شهٔ
مرګيه ځيګروره پهلوان دې راله څهٔ کړهٔ

د خپل لېوني درد مستي مې سانده د نغمې کړه
تحليل شومه د کنګل هواګانو په سينه کښې
بيلتون په وينو وينو صحراګانو باندې سر کړم
خپل ځان به چرته ګورم اوس په کومه ائينه کښې
۱۷مه فروري ۲۰۱۰ء





راځي د خپل غروره سره سم په ببرته ځي
په زړهٔ راله پښې ږدي نهٔ يم خبر چې چرته ځي
ستا ياد کهٔ هر څو ستا په شان خود سره لېونے دے
زما د زړهٔ له کوره به دے څنګ بهر ته ځي
خداے زده چې دا د کومې مينې کومه علامه ده
خبره چې ځي ځي زما او ستا نو شر ته ځي
زما د سترګو نور ستا د راتهٔ ښائست سبب دے
له شمسه چې شغله وځي نو بيا قمر ته ځي
يوه لحظه له خپلې حېرانۍ وتلے نهٔ يم
د سر وينه مې پښو له او د پښو مې سر ته ځي
بغېر له ما هر څوک ترې نه راوړي ډکې جولۍ
زمونږ د کلي څوک هم چې د ښکلو درته ځي
تهٔ هغسې ولاړ يې د سپوږمۍ په ننداره
کامله سم په هپه باندې خلق نمر ته ځي
۱۹مه فروري ۲۰۱۰ء



Pukhto.Net

# زما پرون

زما پرون ښهٔ ښکلے روڼ تاسو ته ياد دے کهٔ نه
زما وطن لکه چې وهٔ هغسې ښاد دے کهٔ نه
زما د کلي يو دېوال چرته اباد دے کهٔ نه
زما معاش چې زما خپل دے او ازاد دے کهٔ نه

زما څادر، زما جامه، زما په پښو پېزار
زما پټکے، زما لونګئ، زما په سر دستار
زما پښتو د غېرتونو د ننګونو نامه
زما وطن د تېرو ښکلو تهذيبونو نامه
زما ادې، زما ابئ، زما بې بې او خورئ
زما دادا، زما بابا، د دوي نمسے او نمسئ
زما حجره په کښې جرګه او ننواتې کول
زما کالهٔ، کالي، اوړئ، ګجرې او ټيك ځنګول
زما ټپه، زما چاربېته او سندره، غزل
زما قيصئ، زما دوښې، زما خبره متل
زما ناموس، زما حيا، زما پړونے، برقعه
زما منګے، زما ګړونج زما کنډول او کوزه
زما نغرے په کښې ايرې زما تنور او ډوډئ
زما څمڅئ د لرګي جوړه او د خاورو کټوئ





زما شوملې، زما ماستهٔ، غوړي، د غواو شودهٔ
د شړشمي غندلو ساګ او د لاونو خوارهٔ
زما ګودر، زما ورشو په کښې څاروي څرول
زما سوکړك او په پلو کښې د پياز غوټه تړل
د دېوالهٔ په سر سپياکې او تپانړې تپل
کندو، خمبه د غلې ډکه، د څارويو غوجل
زما مېچن، زما ډنډت او الاجي او سپنسي
زما کوکنار، زما پومبه چې به ترې ډك وو پټي
زما نوروز، زما مېلې زما سپرلے او اختر
زما ښادي، زما اتڼ زما په ټوقو کښې شر
زما چيندرو، زما ميرګاټي، زما شوتي ډنډئ
زما شلغاتي، پټ پټونے، زما ډب ډبلئ
زما کبډي، انګئ مل دې څوك دے، غل او باچا
زما ګوډيانې او ودونه د ګوډئ او ګوډا
زما رشتې، زما دوستئ، زما خپلوئ د قدر
زما د درمن، د غوبل او د لوونو اشر
دغه تاريخ، دغه اقدار دا مو د ژوند برخه ده
دغه زمونږه په تندي کښې د لويئ کرښه ده
دې نوي دور رانه غلا وکړه هر څهٔ ئې يوړل
ژوند مشيني شهٔ، مصنوعي شهٔ ټول خوارهٔ ئې يوړل
۲۲مه مئي ۲۰۰۹ء

Pukhto.Net

## ما سره راځئ

زۀ د ظالم لاس نيسم د ظلم مخ نيوے کوم
کار چې د غوښتنې د روانې زمانې کوم
ما سره راځئ ملګريو ماسره راځئ

مونږ د خپلو ګټو له اساسه خبر شوي يو
مونږه په خپل مينځ کښې له بديو صبر شوي يو
زۀ د درباندې زيرے د وروري د نذرانې کوم
ما سره راځئ ملګريو ماسره راځئ





ښکلي شمله داري باباګان مسکي ولاړ دي
ټول ځوانان په جنګ د ازادۍ جنګرېز ته لاړ دي
زۀ ئې نن اتڼ له اهتمام د تماشې کوم
ما سره راځئ ملګريو ما سره راځئ

دا زمونږ وطن د يرغلګرو قبرستان دے
دا زمونږ د ننګ ټاټوبے شان مو پرې ودان دے
زۀ به ئې ساتنې له په سر باندې کانې کوم
ما سره راځئ ملګريو ما سره راځئ

زۀ ستاسو کامل يمه او ستاسو له ټبره يم
بې له محبته د هر کاره ناخبره يم
زۀ د پښتو خاوره يم د شعر دردانې کوم
ماسره راځئ ملګريو ماسره راځئ
۲۵م مارچ ۲۰۰۸ء

Pukhto.Net پښتو

## غزل

د محکوم افغان له کوره
یو اواز دے ډك له شوره
چې راخېږي ډېر په زوره
د ازادۍ دنیا خلقو
ساه مې ډوبه غلامۍ کړه

تول سپین ږیري مې ناخواله
پېغلې جونه مې ناسیاله
هر یو ځوان مې بې کماله
د هنر د سبا خلقو
ساه مې ډوبه غلامۍ کړه

ځمه توان پیدا کومه
باباګان رالړزومه
خپل زلمي قطارومه
منظم په ښکلا خلقو
ساه مې ډوبه غلامۍ کړه





ازدي د وطن غواړم
ابادي د وطن غواړم
او سیالي د وطن غواړم
منور په رڼا خلقو
ساه مې ډوبه غلامۍ کړه

راپاڅېږئ زورورو
وخت دے تېر اوس د خبرو
ځان لښکر کړئ سر لښکرو
د غېرت د حیا خلقو
ساه مې ډوبه غلامۍ کړه

د کامل د دعا خلقو
د خانۍ د ادا خلقو
د نغمو د نوا خلقو
د ابادۍ دنیا خلقو
د ازادۍ فضا خلقو
ساه مې ډوبه غلامۍ کړه
۱۱م مارچ ۲۰۰۸ء



Pukhto.Net

## مشوره

زما همځولو د قلم د قبيلې ملګريو
زما هم عصرو شاعرانو سخنورو خلقو
زما د ننګ او پت د مينې او خلوص ښاغليو
د ادب لويو شمله دارو دانشورو خلقو

يوه خبره درسره شريكول غواړمه
ستاسو په مخكښې يو سوال ږدم د مشورې د پاره
د څهٔ ساعت د پاره ستاسو توجه غواړمه
ستاسو خيالونو ته درځم د مشورې د پاره

خبره دا ده چې زهٔ كله هم شعرونه ليكم
زما قلم زما حرفونه زما زړهٔ او ذهن
د خپل اولس د بدبختئ له حاله نهٔ شي وتے
زما احساس زما خيالونه زما زړهٔ او ذهن





زهٔ د دې خپلې پښتونوالې د عظمت په خاطر
د درست جهان د انسانانو د عظمت قائل يم
كهٔ څوك ادنىٰ دے كهٔ اعلىٰ دے زهٔ ئې قدر كوم
زهٔ په ادب كښې د اخلاص او شرافت قائل يم

زهٔ دا ګڼم چې د دنيا په دې راغونډ كلي كښې
مونږه د ځان د ځايولو انتظام نهٔ لرو
زمونږ تنظيم چې نشته مونږ چې لښكر شوي نهٔ يو
د انسانانو په صفونو كښې مقام نهٔ لرو

په داسې حال كښې زما بعضې څو ملګري وايي
چې ستا نظمونو كښې موضوع يوه ده خيال يو دے
د دوي په فكر زهٔ په نظم كښې وسعت نهٔ لرم
ما بې نظره غوندې كس ته شړي شال يو دے

زهٔ دا منمه چې د دوي خبره هم سمه ده
زهٔ دا منمه چې دوي وايي نو رښتيا به وايي
زهٔ دا منمه چې يو فرد يم د بې علمه اولس
زهٔ دا منم زما په حقله چې دوي دا به وايي



Pukhto.Net

زما ملګريو د حالاتو په نبضونو پوهو
زۀ به په کوم ډول په کوم تول شاعري کومه
شعر به خامخا ليکمه چې شاعر يمه زۀ
زۀ به ستائينه د ګيدړ کۀ د زمري کومه

زما په کور چې لمبې بلې دي لوګي خوارۀ دي
زما حجره چې د بارودو په ډېري پرته ده
زما جومات چې مسلکونو پرې قبضه کړې ده
زما مرۍ ته تېزندي چې د پردي پرته ده

په داسې حال کښې چې زۀ ليکمه نو څۀ به ليکم
په داسې وخت کښې يکه څار شمه ټپه وکړمه
په داسې وخت کښې سترګې پټې کړمه ځان کوڼ کړمه
کۀ نه باغي شم تېرۀ کريکه شم نعره وکړمه

زما ملګريو مشوره راکړئ چې څۀ وکړمه
په داسې حال کښې هم په خپل سر بلوسېدۀ وکړمه
۲مه مئي ۲۰۰۷ء





راځه چې نن شريك وکړو ماتم د اشنايۍ
مونږ دواړه يو اخستي اشنا غم د اشنايۍ

دې غنې غنې وخت راله نوکارۍ کړل خيالونه
تر اوسه مو چل زده نۀ کړلو سم د اشنايۍ

دا دواړه تجربې مو کړلې ګوټ لکه د زهرو
غضب د ناشنايۍ دے کۀ کرم د اشنايۍ

ما دلته دې خپل وينې وينې زړۀ ځيګر پرېښې
دعوىٰ څکه کومه په دې چم د اشنايۍ

کامله دا يو تۀ يې چې دې زده محبت نۀ شۀ
پوهېږې په هنر بلها عالم د اشنايۍ

***



Pukhto.Net

مونږ د لاشونو سیاست ته سیاست نهٔ وایو
مهذب خلق یو نفرت ته محبت نهٔ وایو
خپله خبره د خپل حق په ډانګ پئیلي کوو
هېڅ یو جابر ته مونږ لائق د امارت نهٔ وایو
د ننګ په جنګ کښې د غاصب د سر لحاظ نهٔ کوو
خپل سر ته هم په داسې وخت کښې سلامت نهٔ وایو
د دشمنانو په پره کښې چې ښکاره اودرېږي
داسې پښتون ته مونږ سړے د ننګ او پت نهٔ وایو
چې په لښکر کښې تنظیم نهٔ لري اصول نهٔ لري
داسې ټولګي ته مونږ له سره جماعت نهٔ وایو
چې د ظالم او د جابر په وړاندې چپ ولاړ وي
د دې سړي کار ته مونږ کار د شرافت نهٔ وایو
چې پرې له ویاړه کامل جانه شمله جګه ترو
ولې به خپل تاریخ ته مونږ خپل وراثت نهٔ وایو
۲۳م اګست ۲۰۰۲ء





## "خوب وینم عالمه"

دارا ته، سکندر ته، مغلي ته، پرنګي ته
د سیك د خالصې د ارماني توري بچي ته
جعفر او میر صادق غونډې د قام د خرخ سړي ته
سامراج ته، قبضه ګر ته خود غرضه لاهوري ته
شپېلۍ د اسرافیل شومه، جذبه د تودې وینې
سره چغه شومه، شور شومه د خپل وطن د مینې
یوه مسته نعره شومه، نعمت د ازادۍ له
یو تندر شوم راخلاص شومه دشمن له ککرۍ له
مستي شومه، جوبن شومه، لښکر شومه تنظیم شوم
دشمن راته نعرې کړې چې تسلیم شومه، تسلیم شوم
پښتو شومه، پښتون شومه، شمله شوم جګه جګه
رښتینے صداقت مې وهي دارې له هر رګه
روحونه شو د ټولو باباګانو سندربولي
رڼا ده راخورېږي د پښتون د کور په غولي
د ټولو باباګانو ارواګانې خاندي خاندي
قبرونه ئې رڼا دي لحدونه ئې روښان دي



Pukhto.Net

شاباش، افرین وايي په يوه خلهٔ يو اواز
اتڼ دے او نغمې د ازادۍ ورسره ساز
دعا ده د دې غرونو د هر کاڼي نه راخېژي
ثنا ده د سرو چينو په زړونو کښې تاودېږي
صحرا ده کهٔ ځنګل دے يا کهٔ لاره او کوڅه ده
په خلهٔ ئې د يو سيال ژوندون خوږه نغمه خوره ده
هر بوټے هر دېوال، هره بلۍ وايي چې هله
غليم درنه په مخه دے تهٔ هم ورپسې زغله
دا وخت دے، دا زمان دے دې مکان له رڼا راوړه
دې خپلو مېندو خوېندو له ناوياته حيا راوړه
د ګلو د باغونو د بڼونو وږمې راوړه
دې خپلو باباګانو له ښې جګې شملې راوړه
يزيد ته لاره ونيسه ښاغلے بايزيد شه
د وخت د درويزه د مسلك هره لار کښې بريد شه
د تورې او قلم د لارې زور د لوے خوشحال شه
د خونې د اورنګ د پاره قهر شه وبال شه
پت منه پانې پت کښې مرهټه ياد کړه عالم ته
کامله مبارك شه دې بيا ووايه قلم ته





شېر شاه له اواز ورکړه همايون پسې الا کړه
مېروېس ته سلام وکړه احمد شاه ياد په دعا کړه
مېوند کښې د لوے خداے حضور کښې سر په سجده کېږده
غازي امان الله سره هم نخښه پته پرېږده
جندول کښې هم د ننګ د ګلو غېږې غېږې واخله
طوطي د ملاکنډ شه د غېرت لاره راواخله
کړپه ده، کهٔ ټکر، قيصه خانه ده کهٔ بابړه
دشمن ته دې اوس وايه چې په ښنو کښې راته رغړه
دستار دې کوږ په سر کړه او سر هسك لكه ننښتر کړه
د خپل راتلونکي وخت نه دې اودهٔ پښتون خبر کړه
د خپلې لارې خلقو ته دې ټول خلوص نذر کړه
د خپل کالهٔ د هر يو تن باور رابرابر کړه

بيا لوے خداے ته نعره کړه چې بس دا ارمان مې سر کړه
زمونږ بائللے ننګ راله بيا يو ځلې راسر کړه
د جهل د دې تکې تورې شپې نهٔ مو بهر کړه
خوارهٔ وارهٔ اجزا د مو يو وجود د لوے ټبر کړه
د امن علامت مو هم کابل هم پېښور کړه
اے خدايه لويه خدايه پښتنو له برے ورکړه
۲۹مه مئي ۲۰۰۲ء



Pukhto.Net

خپل ځان د غلامۍ نه خلاصول غواړې کۀ نه
زلميه راته وايه ژوند کول غواړې کۀ نه

د امن تصور کړمه تصوير لکه د کاڼي
اوس هم سپينې کونترې پر وهل غواړې کۀ نه

د مينې په قيمت اسانيږے شي ګرانې چارې
د خپلو مجبوريو نه ځان ژغورل غواړې کۀ نه

زۀ ځمه تا له ګل راوړم، سپرلي درله راوړمه
اے تا ته لږ اتال يم ما ليدل غواړې کۀ نه

ګرېوان ئې ستا په سر دے ټول ريښې ريښې په غاړه
ګرېوان د خپل کامل راټولول غواړې کۀ نه
۴م جون ۲۰۰۵ء



نظر

د انسانانو له قطاره وتے هم نۀ شمه
د انسانانو رويو ته کتے هم نۀ شمه

عقل مې خوښ دے چې د زړۀ غوښتۀ کاواکې ګڼي
عقل اسمان دے زۀ اسمان ته ختے هم نۀ شمه

له محبته دې اوس وايمه چې صبر ښۀ يم
له محبته دې اشنا صبرېدے هم نۀ شمه

لاره ده ګرانه ولې زۀ د مينې نقش پسې ځم
لاره ده ګرانه ولې زۀ ودرېدے هم نۀ شمه

زما يقين دے چې په مړوني به راځي د کامل
زما سودا ده چې په دې به ژوندے هم نۀ شمه
۱۳مه مئي ۲۰۰۵ء

عقل فکر دواړه شل، سوچ او عمل دواړه بد
زهٔ هم ستا ښهٔ نهٔ غواړم، تهٔ هم زما غواړه بد

دا پېمانه راوړله دې دور د ځان سره
زهٔ او تهٔ او نور عالم سر تر پايه واړه بد

ښهٔ څهٔ دي، ښهٔ چرته دي، ښهٔ څنګه دي څنګه نه
سر ونيسه کښېنه اوس ساندې وايه ژاړه بد

تهٔ چې په خلهٔ وايې څهٔ زهٔ پکښې فتور وينم
تا ته دې ښکاره زما، ناسته او ولاړه بد

زهٔ په بدو پايمه، تا پسې ئې وايمه
خوښ يمه کامله چې وې د بل په غاړه بد
۱۱مه مئي ۲۰۰۵ء





## ستا کلام زنده باد

د ښاغلي ساحل يوسفزي د شعري مجموعې "سپوږمۍ په سمندر کښې د مخکتنې د دستورې په موقع په ۲۵م اګست ۲۰۰۳ء، پرېس کلب مردان کښې واورولے شهٔ (کامل)

په ساحل د خپل نظر ولاړه خانه
ملغلرې دې راټولې کړې پرېوانه
بيا دې وپېرلې تار کښې د لفظونو
امېلونه دې ترې جوړ کړل د شعرونو
بيا دې ووېشل په درسته پښتونخوا کښې
ستا د شعر درز شهٔ پورته په هوا کښې
تا د خپلو خولو ګټه تاوانې کړه
د پښتو لفظي ښکلا دې امانې کړه
زهٔ منمه چې پښتو ته ښهٔ مخلص يې
په دې کار کښې يوستوے يې خالص يې
خو ملګريه جانانه داسې چل دے
چې په دغه ټول خلوص کښې يو خلل دے

هغه دا چې تهٔ شعرونه چا له وايې
تهٔ چې کومې رڼې سترګې، زلفې ستايې
د دې قام مسئله دغه قيصه نهٔ ده
ولوږه نښتې لا د دهٔ په لړمانهٔ ده
خپله ژبه هېره شوې ده د دهٔ نهٔ
غم جوړ شوے دے د هر چا د وادهٔ نه
نو زما اشنا زما دا مشوره ده
ستا د پاره ښهٔ سودمنه ده کره ده
کهٔ دې قام له ژبه غواړې چې د دهٔ شي
دې پرې ښاد شي د دنيا سره او ښهٔ شي
دا خبرې اوس د ننګ دي د غېرت دي
نهٔ دي نهٔ دي دغه نهٔ د مصلحت دي
نهٔ د خواست نهٔ د منت نهٔ ده زارۍ دي
دا خبرې د نرتوب د بادرۍ دي
اوبهٔ څښل دي د ظالم په ککرۍ کښې
ژوند پالل دي په ښادۍ، په ازادۍ کښې
څه چې پاڅو په خاطر د ناوې جونو
د خپل قام په سوو لوو ارمانونو





د امو نه تر اټکه يو ناره کړو
له چتراله تر بولانه غلبله کړو
د ځوانانو څو صفونه اراسته کړو
بغاوت مو د شعرونو وظيفه کړو
زما جانه دا په زلفو شونډو نهٔ شي
دغه کار به د سرونو په شيندهٔ شي
زما سر واخله د اوس نه دا د قام شهٔ
د پښتون د ازادۍ په نوم انعام شهٔ
تهٔ هم پاڅه ما سره په لام کښې لاړ شه
خپل قلم سره په صف کښې راولاړ شه
بيا چې هره خلهٔ هم وا شي دا به وايي
د ساحل غونډې ځوانان په قام کښې ښايي

بيا ستا شعر ، ستا کلام زنده باد
پښتونخوا او پښتون قام زنده باد
ستا قلم او ستا کتاب زنده باد
انقلاب زنده باد انقلاب زنده باد

***

Pukhto.Net پښتو

## بې عنوانه

د ښاغلي اکرام الله ګران د کتاب "زما غزل" د مخ کتنې د دستورې د پاره ، په چارسده کښې په ۲۳م مارچ ۲۰۰۳ء واورلے شۀ (کامل)

زما ګرانه اشنا د محبت ژبه دې زده ده
د شعر د وئیلو ملکه چې درسره ده
د ژوند د سندربولو د قطار د سر سرے بې
د خپل غزل د زمکې د رڼا د کر سرے بې
ستا شعر خو زما د ژوند په لویه وسیله دے
زما شعر ملګریه په بله حواله دے
دا مونږه چې په کومه خاوره ساه اخلو ژوندي یو
دا مونږ چې په کوم ډول تاریخونو کښې خوندي یو
د دغه تاریخونو د رڼا په ائینو کښې
د خپل قامي ژوندون د ارتقا په اندېښنو کښې
د ډېرو زورورو زورورو د جواب وو
جانانه د هر ډول قبضه ګرو د جواب وو
زمونږه د مړونو د مړانو داستانونه
رقم په سمه، دشته دې ګواه دې پرې دا غرونه
د ټولې ایشیا امن دے مونږ پورې تړلے
افغان په خپله دې ادا کښې څومره دے ښاغلے
د لویې ازادۍ تاریخ ئې ځان پورې نیولے
د هر ظالم جابر سره ئې سر دے جنګولے



Pukhto.Net



خو اوس د خپله زوره رامات شوے دا سرے دے
پرېوتے د خپل زوره او له خپلې دبدبې دے
د سیك، د پېرنګي خبره، ګټه به پرې کېږدو
دې خپل اوسني حال ته به په زړونو ګوتې کېږدو
جانانه د اسلام قلا کښې څو ټوټې پراتۀ یو
د یو ټبر وګړي یو بلا خوارۀ وارۀ یو
خپل ځان ته کۀ خپل نوم اخلو نو کفر ته رسېږو
د ګران د غزل ژبه چې ده مونږ پرې نۀ پوهېږو
له خپلو قدرتونو دولتونو خبر نۀ یو
جانانه پرون پرېږده راته نن ووایه څۀ یو
کۀ دا دې راته ووې نو احسان به دې منمه
لالیه په ما ګران بې بلها ګران به دې منمه
هغه د پرون نر افغان د نن تیارۀ کښې اوسي
هغه افغان چې دې د ایشیا په زړۀ کښې اوسي
د خپلو اتلانو مېړنو نه ئې خبر کړه
د دۀ نه چې ده هېره هم هغه حافظه ورکړه
شاعره دۀ ته خپل د ازادۍ سبق وریاد کړه
د خپل وطن د خپلې مینې ننګ ورله بنیاد کړه
کۀ دغه کار دې وکړۀ نو احسان به دې منمه
اکرامه په ما ګران بې بلها ګران به دې منمه

## زمونږه خپله قیصه

یارانو یو قیصه ده د بارود د مړدکي
سړي لګیا دي وژني په دا اور باندې سړي
زمونږ وطن کښې امن د هما مارغهٔ وزر دے
خبر نهٔ یم چې دې شي هم وهلے چرته پر دے
د یو بل د وژلو د تاریخ چې کوم سفر دے
پښتون پکښې د ټولو نه سر تېزه معتبر دے
دا وير چې دا زمونږ د غاړې شوے دے یارانو
قلار نهٔ شهٔ د غېرو نه وطن د افغانانو
دا ځکه چې دې لاره کښې اباد د ایشیا دے
په دې وجه ډېر غم سره ډېر درد سره اشنا دے
دا لاره چې د هر غاصب جابر په دې نظر وهٔ
دا کور د دوي نظر کښې همېشه ډك له خطر وهٔ
څوك دوي په رضا پرېښي دي تر خپله دسترخوانه
او څوك ئې تمبولي دي په توره په مړانه
هغه توره چې دوي ده په غاصب پسې را ایستې
تر اوسه ئې په تیکي کښې لا نهٔ ده ننه ایستې





قلم ته څو سم شوے خوار په هېڅ طریقه نهٔ دے
په سر قلم کولو کښې له هره قامه ښهٔ دے
اول به ئې پردي د تورې دار ته مخامخ وو
هر وختې یرغلګر به ئې ګوزار ته مخامخ وو
او اوس څو په خپل مینځ کښې ناست دي خپلې غوښې وېشي
د یو بله پردي شو دا نفاق دې اور پسې شي
مات شوے پښتون نهٔ دے خو بد بخته دے بخته
زغملے ئې هر درد دے هر تاوان دے هره سخته
په خپل مشرتابهٔ باندې بې برخې دے له کټې
ګني نو خدا ے ورکړې دي له زوره ډکې متې
پښتونه په افغانه په جانانه بې اسمانه
ما چغه کړله دهٔ ته چې راواوره له تاوانه
تر څو چې تهٔ په خپل وطن په خپل کور کښې غلام یې
هر څو کهٔ زورور یې خو بې ننګه یې بې نام یې
تر څو چې ازادي تر لاسه نهٔ کړې له پردو نه
خپل ځان به رابهر نهٔ کړې د سور اور د لمبو نه
تر څو چې دې پردي خلق پښتونه جنګوینه
تر څو چې درته نور خلق نوکونه جنګوینه
هم دغه به قیصه ستا د فنا ستا د مرګي وي
هم دغه به قیصه د اور، لمبې او مړدکي دي
۲م دسمبر ۲۰۰۲ء

## ګراني ادې خاورې

نر یم، بهادر یمه، پښتون یمه، زلمے یمه
ننګ د پښتونخوا یمه ژوندے یمه ژوندے یمه

دا خاوره به سیاله کړمه سیاله د قامونو زهٔ
دا به د سپرلو ډکه کړم دا به د ګلونو زهٔ
زهٔ په وعده ټینګ یمه په متهو مړنے یمه
ننګ د پښتونخوا یمه ژوندے یمه ژوندے یمه

یو یمه کهٔ لر یمه کهٔ بر یم یو ټبر یمه
مېشت یمه په کوټه استوګن کهٔ د خېبر یمه
زړهٔ مې پېښورے دے او په خټه افغانے یمه
ننګ د پښتونخوا یمه ژوندے یمه ژوندے یمه





ستا د هر غاصب او هر جابر د مرګ استاځے یم
کور د عظمتونو یې او زهٔ دې تاریخ سازے یم
ستا د ازادۍ د لوے ارمان د کور سړے یمه
ننګ د پښتونخوا یمه ژوندے یمه ژوندے یمه

تهٔ چې ځنګلونه او سیندونه لرې غر لرې
ډلې د زلمو لرې طاقت لرې لښکر لرې
زهٔ دې د راتلونکي انقلاب د سر پټکے یمه
ننګ د پښتونخوا یمه ژوندے یمه ژوندے یمه

ما چې په سندرو په شعرونو کښې ځاے کړے یې
ما چې د خپل ژوند په ارمانونو کښې ځاے کړے یې
ګراني ادې خاورې حلالي یم ستا بچے یمه
ننګ د پښتونخوا یمه ژوندے یمه ژوندے یمه

زهٔ د دې تودې وینې په سر باندې قسم کوم
ستا کامل یم ستا د خوشحالۍ د پاره غم کوم
زهٔ د همت غر یم د ښاغلي مزدور ځوے یمه
ننګ د پښتونخوا یمه ژوندے یمه ژوندے یمه
۲۳مه مئي ۲۰۰۲ء

Pukhto.Net

## وعده

ستوري راوخاتۀ سپوږمۍ خپله رڼا خپره کړه
شپه د چپتیا په سفر زغلنده روانه شوله
ستا د راتلو د وعدې زور راله مرۍ خپې کړه
هره لمحه لکه عذاب حېرانه شوله

د تنهایۍ د محشر هره لحظه اووۀ کاله شوه
د بېلتانۀ پېریان مې سر او پښې په کاڼو وولي
د احساس څړیکې څړیکې زخم زخم چړ مې وړي
د محبت خیال دې انګار انګار بڅري نولي

د خوارۀ خوب ارمان مې ټول وجود په غنو راښکي
د شوګیرې لبوۀ مې مخ سترګې نوکارې کړلې
په ټول وجود کښې مې تراخۀ د زهرو وګرځېدل
شپې د سکون، شپې د ارام لمحې خونخوارې کړلې

شپه چې لوئېږي، چې پخېږي نو دردونه راوړي
زما د فکر په دنیا کښې زلزلې راولي
زۀ کۀ ځان ډېر رانغاړم، ډېر کۀ خیال په بله وړم
خو دا مې ذهن ته سودا د دُرشالې راولي





ما ته ښۀ یاد دي چې به مونږ دواړه یو ځاے ناست وو
تا به غوښتۀ جواب په سترګو کښې د مینې د سوال
ما به کوشش کوۀ چې تا سره خبرې وکړم
ما سره هېڅ نۀ وۀ هنر او د خبرو کمال

زۀ دا منمه چې شاعر یم ژبه ور هم یمه
خو ستا په وړاندې زما ژبه داسې وي چې نۀ وي
ما ته د خپل وجود احساس قدر له هم نۀ کېږي
زۀ ډېر حېران یمه چې ما باندې دا چل د څۀ وي

څکه نو زۀ د خپله خدایه داسې خوب غواړمه
یو داسې خوب چې ما د ژوند بلې دنیا ته یوسي
یو داسې خوب چې د سکون په جزیرو وګرځي
یو داسې خوب چې مې د ژوند تیارۀ سبا ته یوسي

یو داسې خوب چې د تعبیر تصویر ئې دومره نر وي
چې ما د دې غلام غلام ژوندون نه لرې بوځي
چې خپل ورك شوے تشخص مې پکښې ژبه وکړي
ما د غربت د دې سپېرۀ مضمون نه لرې بوځي



Pukhto.Net

چې ما او تا یو بل ته دواړه مخامخ کښېنو بیا
چې تهٔ په سترګو کښې مسکې مسکې سوالونه کوې
زهٔ ئې ټپه ټپه غزل غزل جواب درکوم
تهٔ د جواب د قبلېدو سره نازونه کوې

زهٔ به وعدې کوم او تا له به یقین درکوم
چې به اول دا خوار اولس له بدې ورځې ژغورم
د محبت د ګل چمن له به خپل نوم ورکوم
ستا د حیا نغمې به زهٔ په خپله ژبه شورم

د دې ارمان په سر کېدو کښې کهٔ شهید شومه هم
دا نر اولس به مې سپرلے سپرلے بدلون راولي
دا شپه دې زور راته خپل وښایي چې څو ئې وس وي
زما یقین دے چې هم دا به سباوون راولي

زما وعده یاده ساته ځان بې اسرې مهٔ ګڼه
د خپل کامل مئین نغمې دې بې معنې مهٔ ګڼه
۹مه مئي ۲۰۰۲ء





څوك چې د احساس په سمندر باندې لاهو نهٔ شي
فکر به ئې هېڅ کله هم ښهٔ نهٔ شي ساهو نهٔ شي
خدائے دې په دشمنو رقیبانو وبا راوله
ستا مئین چې تا غواړي هېڅ کله دې جارو نهٔ شي
ما له په دې نیت پېمانه راکړه چې پرې مړ شمه
ګورې به چې دا زهر کهٔ ما لره دارو نهٔ شي
هغه کهٔ زلمے شي نو هم چل د مینې نهٔ ورځي
کوم بچے اودهٔ چې د ښې ښې په الاهو نهٔ شي
دا چې ئې مونږ ستایو په غزلو په سندرو کښې
ښکلي به څنګ ګل نهٔ شي، واه واه نهٔ شي، کوکو نهٔ شي
تګ چې د چا زده نهٔ وي د مینې په ازغنه لار
هغه به د ژوند سختو ته نر نهٔ شي چمتو نهٔ شي
څوك چې د ښو نشترې ماتې په خپل زړهٔ نهٔ کړي
پوهٔ به په هنر د ساهو سترګو د جادو نهٔ شي
ستا د غم لمبو چې څوك په سر باندې وهلي دي
ومنه پروا ئې په بادرو او په اسو نهٔ شي
دا چې کامل بیایي تر څهٔ مینځه او پرېږدي ئې بیا
دې کاروان کښې تلو ته خو مې خدائے ګو چې قابو نهٔ شي
***

## باچا جي ته سلام

د ملي اتل اروابناد شېرعلی باچا د دوېم تلين په موقع په ۳م اکتوبر کال ۲۰۰۰ء د شګو پُل پورے هوتی مردان کښې واورولے شۀ (کامل)

ښاغليو راغليو تاسو ټولو ته سلام
سلام د خپل اتل د باچا جي په احترام
دا ستاسو د درانۀ راتګ د مينې عقيدت
زما د محبت د څو شعرونو دا الهام
راښايي چې يو څو د راز خبرې سره وکړو
دا وايي چې ښکاره کړو د خپل دروند رهبر پېغام
ببګاه په درانۀ خوب په خوارۀ خوب باندې اودۀ وم
په خوب کښې مې ليدۀ چې باچاجي وکړۀ کلام
کامله کۀ ژوندے وے نو پښتون اوسې جانانه
شعرونو له دې ورکړه خداے د مينې لوے مقام





سبا له چې زما په ياد راټول زما مئين شي
د ټولو به راوګرځوې دې طرف ته پام
پښتون کۀ بقا غواړې نو وحدت به پکښې شرط وي
پښتون کۀ ژوندون غواړې چې راووځي په لام
پروا د سر ونۀ کړي تېر ونيسي خنجر ته
دشمن له ماتې ورکړي په هر ځاے په هر مقام

يو داسې فارمولا درته ښايمه کامل جانه
دا ټولو ته ورزده کړه تۀ ئې ياده کړه له ما نه
ځلور نقطې په زړونو باندې وليکئ يارانو
دا هغه دي چې ما به يادولې د پخوانه
وړومبۍ نقطه به دا وي چې حدونه مو معلوم شي
پښتون سره يو ځاے شي د چترال نه تر بولانه
وحدت چې مو قايم شي او حدونه مو معلوم شي
نامه به بله ښه نۀ وي بغېر د پښتونخوا نه
او دغه د نامې نقطه دويمه چې پوره شي
دريمه دې د ژبې مرحله راځي افغانه
پښتو به د دفتر او د سرکار ژبه منل وي
پښتونه دا د ګټې کار خالي دے له تاوانه

او دې پسې اخر کښې ځلورمه نقطه دا ده
پښتون کړي ځان خبر د خپلو ګټو له امکانه
د ټولو وسيلو د دولتونو چې خاوند شي
بيا مهٔ وايه چې پاتې به دې وروستو شي د چا نه

ما وې چې باچا جي په احترام په معذرت
په هر څهٔ باندې پوئ شوم خو لرم يو شکايت
هغه پښتون چې خلق پرې د سر او مال نه تېر وو
هغهٔ دے په پنجاب پورې تړلے خپل قسمت
زمونږ سرونه ګوره په څو څو کرته خرڅ شول
اوس سر د دستار کوم دے ياد کړو څهٔ د شملې بت
يو بل اشنا[1] چې اوس ئې نوے نوے تاج په سر کړهٔ
هغهٔ ته خو بس ښکاري د پنجاب مظلوميت
او څهٔ دانشوران ورك دي په پټه خزانه کښې
په جنګ دي د دې شي په اصليت په نقليت

کامله! باچا جي وې لېونيه چار دې ښهٔ شه
زړهٔ غټ کړه ځان بهادر کړه ګله وار دې خطا مهٔ شه





د خپلو لېونو ملګريو ډله درسره ده
زما د محبت د زړهٔ غندله درسره ده

يو څو قدمه لاره ده منزل دا دے نزدې دے
ستا هر زلمے ښهٔ نر دے د مړانې په کار پوې دے

زما دا پېغام واخله او په دې باندې ئې پوئ کړه
ملګرے هر پښتون دې د خپلې قافلې کړه

بيا ګوره چې وران شوے کور دې څنګه نهٔ جوړېږي
بيا ګوره چې دشمن به دې په خپل سر رانړېږي

په دې کښې يو ناڅاپه زهٔ له خوبه رابېدار شوم
د خپل ملي اتل د خيال نه ښهٔ شوه خبردار شوم

ما وې چې خامخا به دا پېغام درسومه
د خپل باچا جي روح ته به پښتون سلام کومه

[1]. د محترم اجمل ختك نېشنل عوامي پارټۍ جوړولو ته اشاره ده

***

## سندره

هغه چې زهٔ به ورته ډېر ډېر ستا ليدو له درتلم
اے د هغې کلي جانانه شپې له راشه کنه

پرانستې غېږه دې لار څارم وارخطا ولاړ يم
خوږه اشنا لکه د خپل زړهٔ په درزا ولاړ يم
ستړيا مې وژني يو ساعت دمې له راشه کنه
اے د هغې کلي جانانه شپې له راشه کنه

د احساس زمکه توده شوې ده ما وژني کنه
مينه دې لا يو په دوه شوې ده ما وژني کنه
ستا دې قسم وي چې يوې لحظې له راشه کنه
اے د هغې کلي جانانه شپې له راشه کنه





بلها مودې وشوې اشنا بلها کلونه تېر شو
زما په سوي لوي روح خو قيامتونه تېر شو
بې لوظه بيا دې د راتلو وعدې له راشه کنه
اے د هغې کلي جانانه شپې له راشه کنه

هغه چې تا به راته کله کله وې لاليه
د محبت جذبې راوستې يم تر دې لاليه
د خپل کامل مئين هغې کوڅې له راشه کنه
اے د هغې کلي جانانه شپې له راشه کنه

هغه چې زهٔ به ورته ډېر ډېر ستا ليدو له درتلم
اے د هغې کلي جانانه شپې له راشه کنه

***

Pukhto.Net

زهٔ خو دې ګرمۍ کړم نن بې شانه پرېشانه
ستا د رخسار سرهٔ چې شو جانانه پرېشانه

زړهٔ بې حوصلې نهٔ شې د ژوند د لار مزل ته
ما ځان سره نهٔ کړې پرېشانه، پرېشانه

ځه نفاقه ورك شه چرته بله مخه ګوره
ګوره چې پښتون دے له پخوا نه پرېشانه

ستا د زلفو دا الوتے باد جوړې سپېرهٔ شهٔ
زهٔ له تا خفه یم تهٔ له مانه پرېشانه

هره نیمګړتیا دې خدا ے پوره کړه چې کامل شې
دا زما دعا ده سلېمانه پرېشانه
۱۸م ستمبر ۲۰۰۰ء





## د لېونۍ د کور چیناره

د ښاغلي عبدالطیف سیماب د کتاب "نمر په چینارونو" د مخ کتنې د دستورې په مناسبت، په ګرین شادي هال پېښور کښې په ۱۲م جون ۲۰۰۰ء واورولے شهٔ (کامل)

زلمیه نازولیه فنکاره زما یاره
د نمر په شان خندان د لېونۍ د کور چیناره
قابل یې د بلها احترامونو اعزازونو
ستا شعر ستا هر لفظ ستا د احساس د وینو داره
پښتو وایې پښتو لیکې او ژوند کوې په دې کښې
شاعره خو پښتو په خپل نصیب ده ډېره خواره
پښتون چې خدا ے باچا کړهٔ او د هند په ګدۍ کښېناست
پښتو ئې رابهر کړه د خپل عدل له درباره
منو چې پښتون نر دے د نرانو سر لښکر دے
منو چې زور لري د جنګ هنر ئې دے بېسیاره



Pukhto.Net

منو چې سکندر په هشتنغر کښې ګوزار وخوړ
ستا کلي١ کښې په ساه شۀ چې خطا شوه ترې نه لاره
ځـه دغـه د زرګونو کالو یاد دے دا بـه پرېږدو
راځـه راسره خپل د اقتدار کلونه شماره
درې نیم سوه کلونه خو پښتون باچايي وکړه
خو خواره پښتو نوره هم دې نر باچا کړه خواره
سوونه کاله دا قیصه جاري وه تاریخ وايي
کوڅو کښې ګرځېده پښتو یتیمه خوارو زاره
دا لوبه د مغلو قبضه ګرو پورې وشوه
پښتون د کورني نفاق د لاسه شۀ ناچاره
په دې بابله کۀ وايو نو دا هم اوږده قیصه ده
راځه چې وړاندې ځو د بایزید په رڼه لاره
راځه چې سلام وکړو د خوشحال مبارزې ته
اوس هم ئې ويني څاڅي د هر زخم له پرهاره
راځو د خپل نزدې تاریخ لمبه لمبه نښتې له
راځو د پرنګي اعلیٰ حضرت تر اقتداره

پښتون چې تر دې راغے ژوند ئې نور هم د پېغور شۀ
وجود ئې په مینځ مات شۀ اول دوه شۀ بیا څلور شۀ





وخت بله یو ناسازه ناروا ورسره وکړه
ړوند کوڼ شۀ لاړۀ لاړۀ د کانګرس په اوږو سور شۀ
او داسې پکښې ورك شۀ چې خپل رنګ ئې هډو بائیلۀ
په رنګ کښې ئې شۀ رنګ او د هغۀ په شور کښې شور شۀ
او بیا چې وخت د ګټې د تاوان د حساب راغے
هندو داسې ګوزار کړۀ چې سم پړمخې نسکور شۀ
او دې پسې نمبر چې د رنجیت د بچې راغے
هغه خو د بلا بچے وۀ سم بچے د اور شۀ
زمونږ د لوے نغري کور ئې منډۍ کړه د بارودو
پرون هلته یو بل پښتون منصور٢ په سولۍ سور شۀ
لاهور د خپل بدل د اخستو انتها وکړه
د وینو ډنډ کښې ډوب د احمد شاه نیکۀ انځور٣ شۀ
پښتون خپل اقتصاد خپله نامه او کلتور بائلۀ
پښتون د هند وارث چې وۀ د ډز شۀ نۀ د زور شۀ
او بیا یو بل مئین د تور پنجاب په کټ کښې کښېناست۴
په دې بها زمونږ مئین د دغه سړي ورور شۀ
وخت بیا یوه ټټوبه یوه ټوقه وشته وکړه
تند ے د نر پښتون د دغه در په سجده تور شۀ
پټکے د ننګ او پت ئې د لنګ مار په پښو کښې پرېوت
کۀ پاتې څۀ شوخي ئې وه د هغې نه هم سپور شۀ

او اوس د پښتون قام د سیاست په اکاړه کښې
بیا دوه پهلوانان[5] اودرېدل یو بل ته پره کښې
سیمابه ستا شعرونه هم ګلونه هم دردونه
حېران یمه ملګري یقین وکړه په یو دوه کښې

اخر چې دا څهٔ وشو او لا نور به څهٔ چل کېږي
پښتون به بد قسمته ګني نور هم ذلیل کېږي

دا غم زمونږ د برخې کهٔ حساب ئې درسره وي
دا سوال یو داسې سوال دے کهٔ جواب ئې درسره وي

یو بل کتاب ترې جوړ کړه د لیکلو غم ئې وکړه
ګني کامل پاګل شهٔ د ترلو غم ئې وکړه

۱۔هند ۲۔ډاکټر نجیب الله شهید
۳۔افغانستان ۴۔د ولي خان او نوازشریف اتحاد
۵۔خان عبدالولی خان او قدرمن اجمل خټک

***





اے خدایه د رنګونو په سېلاب کښې مې لاهو کړه
او زور مې د زړهٔ زیات کړه محبت ته مې چمتو کړه

کهٔ مړ یم خو چې تهٔ مې خواله راشې په خندا شې
کهٔ بیا راژوندے نهٔ شوم نو په مخ مې لاړې توکړه

نفرت د زندګۍ په مخ یو داغ د ننګۍ دے
ستا ډېر درانهٔ به یوسم خو دا زخم مې رفو کړه

بانهٔ به درته وغوړوم زهٔ د ژوند په لاره
جانانه تهٔ خو وایه چې لار راته جارو کړه

سپرلے به دې کامله منت بار وي د سندرو
خپل فکر دې د مینې د رڼا په شان ساهو کړه

خود سره دے یوه زور ګیري نهٔ مني پښتون دے
کامل د خپلو سترګو د جادو په زور قابو کړه
۳۱مه مئي ۲۰۰۰ء

## یو تاثر

یو اسویلے چې په هوا کښې خور شي ورك شي پکښې
یوه سلګۍ چې په تالو کښې نوکې ولګوي
یا لکه څرېکه چې خپل کار وکړي او ونۀ ښکاري
یا یوه اوښکه چې ګرېوان کښې پرېوځي وځلېږي
یا یوه سانده چې چپه چپه هوا وشوري
یا لکه وير چې خامخا به په سر توره کېږي
یوه نغمه چې د شاعر د احساس درد وښايي
یوه سندره ښۀ ترخه خو د خوږو لفظونو
یوه نیازبینه ښاپېرۍ د تورابان غېږه کښې
یا یوه کرښه د تهمت چې د تندي خاپے شي
یا یوه نخښه تکه توره چې لمن ونیسي
یا لکه داسې سمندر چې خپل ساحل نۀ لري
یا یوه ويره چې رڼا سرې ته بو بلا کړي
یا لکه وهم د تيارې چې ايمانونه تور کړي
زمونږ وطن کښې د ژوندون د معيار دا نمونې
زمونږه خاوره کښې دي داسې بوزغلې ساګانې

Pukhto.Net





چې راټوکېږي نو لمبه لمبه ګلونه نيسي
چې غونچکونه شي رنګونو له دړدونه نيسي
زما د کلي د وطن مئينو خپلو خلقو
زۀ یو څو ورځې په پردي کلي کښې وګرځېدم
زما همځولو په ګلاب ګلاب ځوانو مئينو
زۀ دغه کلي کښې لحظه لحظه په مرګ راتېر شوم
د خپل اولس د جهالت لمبه مې سر کښې تاو شوه
د ورور وژنې د تکليف له درده ربز مربز شوم
هتله کښې خلق د مستۍ له زوره ټك وچاودل
د ترقۍ د بام په لوړه ښۀ په منډه لاړل
پښتونه تۀ په دغه زغل کښې چرته ورسېدې
څه کنه وایه ستا هدف څۀ دے او لاره څۀ ده
راځه په خدایے باندې توکل وکړه راځه راپاڅه
چې دې تك تور ژوندون له غم د رڼاګانو وکړو
ګني په خدایے چې د خندا یو د خندا به اوسو
د ټوك ډوډۍ به پامتدار یو په ژړا به اوسو
۱۰م اپرېل ۲۰۰۰ء کراچۍ

# د ماشومانو ترانه

ننګ په خپل وطن کوو په زړونو کښې غېرت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو

لوړې حوصلې لرو په شان د تاترې لرو
ښې جګې شملې لرو جومات لرو حجرې لرو
غرونه لرو دشت لرو ابادې ښارېې لرو
شان د حريت لرو مونږ خپل ملي وحدت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو

مونږ به دغه غرونه دغه دشتې ګلورينې کړو
مونږه به دا ګل څهرې لا نورې ماه جبينې کړو
مونږ به له وطنه ځار د خپل خپل بدن وينې کړو
ننګ لرو جذبه لرو سپېڅلې محبت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو

دا وطن د لوی غېرت په سر باندې اباد وطن
دا وطن د مينې په رشتو دے زنده باد وطن
دا وطن د لوی تاريخ په مخ باندې ازاد وطن
ځکه پرې نازېږو چې مونږ هم ښکلے جنت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو





دلته لرې نۀ ده چې خدا ے ښکلے سپرلے راولي
دلته به زمونږه همت نوے سپرلے راولي
دلته کښې به وخت دا سې ښاغلے سپرلے راولي
مونږه د ايلم د لوړو څوکو په شان نيت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو

ګورې به چې مونږ ته به قامونه سلامۍ کوي
ګورې به چې دلته به رښتيا هر کس خانۍ کوي
ګورې به چې دلته به رښتيا هر کس سيالۍ کوي
ورك الغاو تلغاو شه مونږ به امن او راحت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو

مونږ د خان شهيد او باچا خان د سر ګلونه يو
مونږه د خوشحال او د رحمان بابا شعرونه يو
مونږه د روښان په انغري کښې انګارونه يو
تل به خپل وطن ته وظيفه د ښۀ خدمت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو

ننګ په خپل وطن کوو په زړونو کښې غېرت لرو
مونږ د پښتونخوا نران بچي يو لوړ همت لرو
۲۲مه فروري ۲۰۰۰ء

زهٔ او شوګیر غاړه غتې زهٔ او خوب پردي پردي
ما نه د سکون وختونه هېڅ بې هېڅه دي پردي

خوار شې د پښتون غلامه فکره هسې پايې څهٔ
تا له به ګټي ګنې پاګله ازادي پردي

ما سره د مينې د روزګار قيصه اوږده وايه
دې کار کښې خو کړې ده ټول عمر له تادي پردي

خپلو خلقو چل د خپلولۍ درنه خدا ے هېر مهٔ کړه
هېچا سره نهٔ کوي هېڅ کله غم ښادي پردي

ما له مې زما په خاوره کچ ږدي د اوبو خوړو
ګوره مونږ بې خوندو له بيا شماري ابادي پردي

څکه خو کامل دې د سپرلي ژوند دعا غواړي تل
څهٔ وايې په قبر چا له څوک ګلونه ږدي پردي
۲۸م دسمبر ۱۹۹۸ء





## سندره

ښار کښې خو ښائست راوربدلے دے
ما نه مې قدم په قدم زړهٔ وړي
بيا به ښار ته نهٔ ځمه

مونږ يو کلي وال خلق ښکلي به مونږ څهٔ ګنې
مونږ يو مينه وال خلق ښکلي به مونږ څهٔ ګنې
څهٔ يو د کمال خلق ښکلي به مونږ څهٔ ګنې
دوي زمونږ ښائست کله ليدلے دے
بيا به ښار ته نهٔ ځمه



Pukhto.Net

کلي کښې هم حسن ډېر داسې نه چې هيڅ نهٔ يو
ښهٔ د ښاپېرو په څېر داسې نه چې هيڅ نهٔ يو
دا به درنه ښار کړي هېر داسې نه چې هيڅ نهٔ يو
ښار کښې ژوند د لاسو نه وتلے دے
بيا به ښار ته نهٔ ځمه

سترګې پکښې برېښ کوي، هلته رڼاګانې دي
هر څهٔ ئې توربېښ کوي هلته رڼاګانې دي
ځنګه پس او پېښ کوي هلته رڼاګانې دي
ما نه ئې زما فکر تروړلے دے
بيا به ښار ته نهٔ ځمه

ښار کښې هنګامه ده ژوند چپ شه غږ ئې مهٔ کوه
هلته حادثه ده ژوند چپ شه غږ ئې مهٔ کوه
څهٔ ترخه قيصه ده ژوند چپ شه غږ ئې مهٔ کوه
ښهٔ شوه چې کامل ترې روغ راغلے دے
بيا به ښار ته نهٔ ځمه
۲م ستمبر ۱۹۹۸ء



Pukhto.Net



پاتې شوي ستا د زلفو له اسرې يو
کردارونه دې د مينې د قيصې يو

اموخته چې دې د حسن د مزې يو
خاوندان د ډېرې لويې مرتبې يو

مونږ ښاغلي د اوچتې درجې يو
چې وژلي ستا د سترګو حادثې يو

دا دمينې برکت دے چې ژوندي يو
داسې نه چې نهٔ د هغې نهٔ د دې يو

تاوده غېږه او ښهٔ يخه شپه کامله
مونږ عادت د داسې شپې د شوګيرې يو
۲م اپرېل ۱۹۹۷ء

ما د حسن د عظمت نه انکار نهٔ زده
ستا د مينې د الفت کاروبار نهٔ زده

د هغهٔ نه احترام تهٔ څهٔ له غواړې
چې مزل ئې وي د مينې په لار نهٔ زده

شاعري به ئې بې خونده بې خوږو وي
چې د چا وي د بلبلو چغار نهٔ زده

د ژوندون تپوس ترې مهٔ کوه چې څهٔ دے
چې ئې خوب وي په لمبو په انګار نهٔ زده

تفاوت د بخشالي١ د زنډو٢ څهٔ دے
د کامل په حقله هېڅ د اسرار نهٔ زده

١۔د اروابښاد اسرار الله اسرار کلے،بخشالے
٢۔زما کلے، زنډو ډېرۍ

١٢مه فروري ١٩٩٨ء





## سندره

زهٔ پــه تــا مئــين يمه غــمژن يــمه غــمژن يمه
تا د نهٔ راتلو قسم خوړلے دے

بې لـه تا د ژوند په حقـيقت کښې هېڅ مزه نـشته
ژوند کښې حرارت نشته مستي نشته لمبه نشته
شـعر کـښې هنـر نشـته خوارۀ نشـته جذبه نشته
ستا پـه نهٔ راتـلو مې د ژونـد هر هنـر بائللے دے
تا د نهٔ راتلو قسم خوړلے دے

هره ورځ د ژوند لکه لحظه لحظه په اور کښې ده
وژني مې جذبـه د محبت دومره په زور کښــې ده
بې له تا په کلي کښې استوګنه په پېغور کښې ده
تـهٔ يې چې الفت دې د نفرت اورکښې سېزلے دے
تا د نهٔ راتلو قسم خوړلے دے



Pukhto.Net

شپې مې بې ارامه بې ارمه بې ارمه دي
ټولې ارزوګانې مې ناکامه دي ناکامه دي
روح مې بې قراره او ساګانې بې دوامه دي
فکر کښې مې تهٔ اوسې نو دے ځکه ښاغلے دے
تا د نهٔ راتلو قسم خوړلے دے

ستا کامل پښتون دے تا به پرې نهٔ ږدي جانانه تل
بې له تا به بل خوا قدم کښې نهٔ ږدي جانانه تل
هسې خو په شعر کښې لمبې نهٔ ږدي جانانه تل
ستا سپېځلې مينې ورته دومره درد بخښلے دے
تا د نهٔ راتلو قسم خوړلے دے

زهٔ په تا مئين يمه غمژن يمه
تا د نهٔ راتلو قسم خوړلے دے
۱۸م دسمبر ۱۹۹۷ء





زده کړے ما څهٔ داسې محبت دے خوږه ياره
ژوندون بغېر له تا په ما قيامت دے خوږه ياره
غزل کښې چې مې خوند دے د لفظونو د خوږوالي
دا ستا د خوږو شونډو برکت دے خوږه ياره
رنګينې حادثې کهٔ د نظر نهٔ وې راپېښې
دا ژوند خو سر تر پايه اذيت دے خوږه ياره
ګل پاڼې پاڼې نولې، وږمې عطر عطر ويشي
ستا زلفو کړے داسې شرارت دے خوږه ياره
اے ستا زړهٔ سر خوړلے به په څهٔ بيعه خپلېږي
ما وې کهٔ زما سر د دهٔ قيمت دے خوږه ياره
ما مهٔ تله د زړو د مرمرو پېمانو کښې
احساس زما جاګير زما دولت دے خوږه ياره
وعده وکړې کامل سره او بيا ئې پوره نهٔ کړې
نور ډېر ښهٔ بې خو دا در کښې علت دے خوږه ياره
۲۷م ستمبر ۱۹۹۷ء



Pukhto.Net

د ژوند تراخهٔ به درته څهٔ وایمه، څهٔ شمارمه
خو ښهٔ به دا وي چې ئې نهٔ وایمه، نهٔ شمارمه
نهٔ دې اواز چرته راځي نهٔ دې ښکالو د قدم
بیا هم درځم په لاره نخښې دې د پلهٔ شمارمه
وخته څهٔ داسې کوڼ خو هم نهٔ یې چې نهٔ ئې اورې
زهٔ به تر کومه ناکړدې د بیلتانهٔ شمارمه
اور دے، دوزخ دے، د ازغیو لار ده، د زړهٔ ځړیکې دي
ناست یم معنې د سوي لوي ژوندانهٔ شمارمه
دا چې یار نهٔ راګوري دې ته ئې ښهٔ نهٔ وایم زهٔ
چې ئې د درد په خوږو پوېٔ کړم دا ئې ښهٔ شمارمه
د اباسین په غاړه ناست یمه له تندې مرمه
په چپه خلهٔ باندې چپه چپه اوبهٔ شمارمه
هغوي چې مینې له د شرمه په مخ لاس راکاږي
کامله ځان به څهٔ په دې خلقو کښې وهٔ شمارمه
۲مه مئي ۱۹۹۷ء



Pukhto.Net



چې سکون د ورځې ورك وهٔ د شپې نهٔ وهٔ
په دې زمکه کښې مې ځاے د دمې نهٔ وهٔ

تصور د بیلتون څهٔ وهٔ ستا په غېږ کښې
نمر تود شوے لا د هاړ د غرمې نهٔ وهٔ

دا چې فکر کښې مې اوس الغاو تلغاو دے
په رڼا باندې مئین د تیارې نهٔ وهٔ

تا د عشق نیازبین هنر بازار ته یوړهٔ
ستا ساده مئین د دومره قیصې نهٔ وهٔ

کهٔ ئې توره ډال د ژوند سترګیا ته کښېښول
بیا خو وایه کامل هېڅ څهٔ د ښې نهٔ وهٔ
۱۹م اپریل ۱۹۹۷ء

د محبت یوه ناکامه تجربه کومه
زهٔ به درځم جانانه تا سره به شپه کومه

شاعري څهٔ وایم غزل کښې څهٔ معنیٰ لرمه
دا د دې ستړي ستړي ژوند د راز قیصه کومه

ستا نه به زړهٔ صبروم ستا نه به رانغاړمه ځان
سوګند کومه خو اول ئې اراده کومه

مازیګرے دے نن خو بیا په دې لار راشه کنه
زهٔ هم ولاړ یم د رنګونو ننداره کومه

چې زر مې نشته چې د دور تقاضه نهٔ لرم
د ښائستونو په جاګیر به څنګ قبضه کومه

کامله ما دې د غزل په غېږ کښې واخله کنه
ډېر ستړے شوے یم یو څو لحظې دمه کومه
۱۲مه فروري ۱۹۹۷ء





## سندره

د زلفو تال به درله جوړ د لونګینه کړمه
خو د خپل حسن قیصه بل چا ته څرګنده نهٔ کړې
ستا د ښائست قیصه به نوره هم رنګینه کړمه
ښکلیه پام ګورې چې هسې مې بې بنده نهٔ کړې

تهٔ خو زما یې زما ځان یې
تهٔ خو رڼا د دې جهان یې
لکه وطن راباندې ګران یې
نن به رقیب سره هم دا خبره سپینه کړمه
خو د خپل حسن قیصه بل چا ته څرګنده نهٔ کړې

زهٔ ژوند زېلے یمه ډېر کنه
جانانه ما چې نهٔ کړې هېر کنه
مئینه را چې نهٔ کړې تېر کنه
د زړهٔ تیارهٔ به مې رڼا ستا له جبینه کړمه
ښکلیه پام ګورې چې هسې مې بې بنده نهٔ کړې

Pukhto.Net پښتو

زهٔ ارزومند د محبت یمه
ډېر کهٔ کمزورے په قسمت یمه
پوې په هنر د ننګ او پت یمه
هره جذبه به ستا په عشق کښې اور ورینه کړمه
خو د خپل حسن قیصه بل چا ته څرګنده نهٔ کړې

ستا په مئینو کښې سر خېل یمه
منم چې ډېر په زړهٔ غلبېل یمه
زړهٔ مې رباب دے ادم خېل یمه
هره سلګۍ به د درخو په شان شېرینه کړمه
خو د خپل حسن قیصه بل چا ته څرګنده نهٔ کړې

راشه دا ټول کلي ښېراز کړه تهٔ
راشه پوره راله دا نیاز کړه تهٔ
راشه او را ما له اواز کړه تهٔ
کامله دا سیمه به ټوله ګل ورینه کړمه
ښکلیه پام ګورې چې هسې مې بې بنده نهٔ کړې

۲۲م ستمبر ۱۹۹۲ء





د ښائستونو تماشګیر یم مخ دې مهٔ پټوه
ګرانه اشنا په زړهٔ دلګیر یم مخ دې مهٔ پټوه
د راحتونو په امېد مې قیامتونه تېر کړل
ډېر لے په لے شوم ډېر فقیر یم مخ دې مهٔ پټوه
زما نه مهٔ شرمېږه ښکلیه ما ته بد مهٔ ګوره
زهٔ خو د ژوند د درد تصویر یم مخ دې مهٔ پټوه
یه د رنګونو رانۍ یه د امېدونو ناوې
ستا په خندا پسې زهیر یم مخ دې مهٔ پټوه
د محبت جذبې اعلیٰ کړمه بالا ئې کړمه
تا ته په څهٔ باندې حقیر یم مخ دې مهٔ پټوه
زهٔ خو شاعر یم د لفظونو د رنګین مملکت
زهٔ خو د خپل اولس سفیر یم مخ دې مهٔ پټوه
د خپل کامل نه دې لوګے کړه خوبولے ځواني
زهٔ د کامل بېدار ضمیر یم مخ دې مهٔ پټوه

۷م ستمبر ۱۹۹۲ء

مینه خلوص پېژني جانانه وفا پېژني
دا د نوي ژوند ضرورتونه دي دا پېژني

لارې دې په غلو غلو رقیبانو راته مهٔ نیسه
زهٔ خو ستا مئین یم لېونیه تهٔ ما پېژني

وخانده په سترګو کښې او څه په بېرته څه اشنا
تهٔ د مرګ نه بله لړه ګرانه سزا پېژني

زلفو له څنډ ورکړه کنه روح مې بې قراره دے
وه ساده اشنا تهٔ سپرلئیزه هوا پېژني

دا شعرونه څهٔ دي، د کامل سندرې، څهٔ وایې
دا ستا د ښائست د اداګانو ادا، پېژني
۳۱م جون ۱۹۹۲ء





کاتهٔ کړې راته داسې چې د زړهٔ نه پورې وځي
مغل لکه چې سم د نمر خاتهٔ نه پورې وځي

اے خدایه اباسین چې رانه چا شوکمارو یوړهٔ
جانان چې سېل له ځي اوس به د څهٔ نه پورې وځي

ترون د "زهٔ" او "تهٔ" کهٔ لازواله غواړې یاره
ممکن ده خو انا به دې د "زهٔ" نه پورې وځي

نن بیا دې راته لوظ د راتلو رامخکښې کېږي
جانانه نن مې بیا غنه د زړهٔ نه پورې وځي

دا زړهٔ هم د کامل عجیبه شے دے چې ژوندے دے
دے درد کښې ځان تحلیل کړي درد د دهٔ نه پورې وځي
۹م مارچ ۱۹۹۲ء



Pukhto.Net

هره لحظه د ژوندانهٔ کښې چې تا یاده لرم
زما رانۍ د زړهٔ مانۍ په تا اباده لرم

ما د وهمونو د تیارو چوکاټ کښې مهٔ اودروه
زهٔ خو مې هره ساه د هر قېد نه ازاده لرم

کهٔ مې د خپل سر د قیمت نه ګران ګڼلے نهٔ یې
د محبت دعویٰ به ګرانه بې بنیاده لرم

د امن خیاله مجسم شه دلته راشه کهٔ نه
دا خپل ټاټوبے به تر څو ډک له فساده لرم

نور به کامله تاته څهٔ وایمه خانه د زړهٔ
یوه جذبه ده چې ئې ستا د پاره ښاده لرم
۵مه فروري ۱۹۹۲ء





ستا د شونډو نه چې خلهٔ راډکومه
د مرګي کومې کښې هم ژوندون کومه

سرحدونه نفرتونه ورانومه
پښتونخوا د محبت ابادومه

زهٔ په ټاټې د جوارګرو سره ناست یم
خپل بائیللے تشخص راسر کومه

دې کښې مینه دې کښې امن دې کښې ژوند دے
زهٔ دا خاورې په سر څکه بادومه

تهٔ راوګرځه کامله پورې راشه
ستا دپاره زمانې راګرځومه
۴مه جنوري ۱۹۹۲ء

هم سوز د زندګۍ دے او هم ساز د زندګۍ دے
وه ښکلیه محبت څۀ دے خو راز د زندګۍ دے

په شکو شکو زړونو کښې د مینې کر کومه
بس دغه یو هنر خو مې جواز د زندګۍ دے

تا نۀ شم هېرولے زۀ تا نۀ شم هېرولے
زما دغه ساده غوندې انداز د زندګۍ دے

جذبې ستا د خپلوۍ لافاني کړے یمه جانه
هر لفظ مې د غزل ځکه اواز د زندګۍ دے

خندا مې شوکوي د خلې نه ډېرې مودې وشوې
دا ناز دے خبر نۀ یم کۀ دا نیاز د زندګۍ دے

د مرګ د خونړۍ پنجې نه تا ژغوري هم ځان خپل
کامل ځکه په دې، رقم طراز د زندګۍ دے
۷م دسمبر ۱۹۹۵ء





ما به زورې تر څو پورې خو سکون را
محبته لافاني غوندې ژوندون را

د تیارو په ضد مې هره ورځ شهید کړه
په بدل کښې رڼا راکړه سباوون را

چې ستړیا یوسي ستا غېږ له او دمه شي
ما له توان په یوه داسې لار د یون را

ستا په نوم چې مینې هره ورځې مړ شوم
څۀ صله خو اوس د دغه شواخون را

د کامل غزله ساه راکښې پېدا کړه
څۀ تدبیر د بېلتانۀ نه دخلاصون را
۱۴م نومبر ۱۹۹۵ء



Pukhto.Net

د مرګ د کومې نه راپاڅېدمه
غم دې پرې اېستے وم بیا پاڅېدمه

د ژوند درنو بې دمه کړے ومه
بیا په قلاره په سا پاڅېدمه

ښکلي خو هره لحظه ووژلم
خدا ے زده د چا په دعا پاڅېدمه

د محبت د اسمان نمر شومه اوس
بېګاه پرېوتے سبا پاڅېدمه

د سحر سترګه شومه وځلېدم
کامله رنګ په ښکلا پاڅېدمه
پېښور KTH ۲۷مه مئي ۱۹۹۵ء



Pukhto.Net پښتو



تهٔ چې اشنا له محبته تښتې
دا خو د ژوند له حقیقته تښتې
زما د غېږې نه ځان مهٔ شوکوه
څهٔ کوې څهٔ له د لذته تښتې
په تور راوي کښې به لاهو شې یاره
د اباسین له اصلیته تښتې
په زردارانو خرکارانو اوړې
چې د بې وسو له محلته تښتې
دا په تا څهٔ وشو هوښیاره یاره
دوزخ له ځې او له جنته تښتې
په لېوني شور کښې به ورك شې اشنا
د خاموشۍ له مملکته تښتې
د مصنوعي رڼا په پړق پسې ځې
د پښتونخوا له سیاسته تښتې
کامل به نهٔ شې خپل اولس ته ښکلیه
چې له حجرې او جماعته تښې
۱۴م اپرېل ۱۹۹۵ء

معنیٰ څهٔ ده د ژوند د حقیقت په فلسفه کښې
دي ځان راټول د تضاداتو په مېره کښې
د روح د سرګوزی د انتشار په نتیجه کښې
مونږ ځکه ځان مشغول کړهٔ د مادې په وظیفه کښې
د ژوند د ارتقا لار غوڅول په سر پرته ده
یاران هغسې ګېر دي لا د زلفو په ولقه کښې
روڼ خیال ګمارول کوي عمل ته اولسونه
احساس چې شي ژور نو زور پیدا شي په جذبه کښې
تهٔ رنګ یې تهٔ رڼا یې تهٔ د ژوند د کور ښکلا یې
نور ولیکمه څهٔ ستا د ښائست په دیباچه کښې
زړګیه ټوقې نهٔ دي ځان منل په تاریخونو
لا نورې حادثې هم شته د ژوند په مرحله کښې
کامله د ماضي او حال تړون څومره رنګین شهٔ
زړګي مو کړل راټول د چا د یاد په لوپټه کښې
۱۵م ستمبر ۱۹۹۴ء





اثر د زورور نظر د سترګو د خمار
لحظه په لحظه وژني مئینان قطار قطار
هر ښکلي ځان سره یوړم او لاره کښې ئې پرېښوم
انصاف په تاسو خلقه اوس په چا وکړم اعتبار
حېران کړمه انصاف د ساقي جان د عدالت
تر اوسه مې رانهٔ غے د یو ګوټ شرابو وار
اے بس دے اوس یو ځل خو مې سینې ته کړه راجوخت
جانانه خداے ته وګوره چې ونهٔ کړې انکار
بیا کال دې د وعدې وشهٔ د ګلو د راوړلو
بیا منے شهٔ جانانه بیا بمبلې شو جوار
ستا مینې ته ستا طمعې ته ایسار شومه اشنا
دنیا راپورې وخندل د ژوند په لویه لار
کامله محبت دې د جنون تر حده یوړهٔ
کامله تهٔ په خبر شې او په خبر دے شه دا کار
۱۹۹۴ء



Pukhto.Net

# شاعره بختوره

د ښاغلي همایون همدرد د کتاب "ګلګون" د مخکتنې د دستورې په مناسبت په ۱۷مه جولايۍ ۱۹۹۴ء کښې په کمیونټي کونسل هال مردان کښې واورولے شۀ (کامل)

حالات د زندګۍ لکه غرمه په سوراړا کښې
د مینې تصور لکه سندرې په ژړا کښې

او ذکر د رڼا کول شو ځان پورې ټټوبې
تیارو څۀ داسې وکړې په ذهنونو راله لوبې

هر یو د ادم ځوے ګېر دے د ذات په دائره کښې
هر چا دي ننه ایستي خپل خیالات په دائره کښې

او څوک د وخت ځامن خو محبت ته لارې نیسي
د دې وطن واکمن دي چې الفت ته لارې نیسي

تنګسیا شوه مقدر د دې وطن د خوارې کښو
اوس هم مسافرې ده په دکن د خوارې کښو





اوس څوک دي چې اولس د محبت په نوم راټول کړي
اوس څوک دي چې خورې ټوټې راجمع د کچکول کړي

اوس څوک دي چې فکرونو له رڼا او ښکلا راوړي
اوس څوک دي چې دې خاورې له دستورو ځلا راوړي

اوس څوک دي چې د مینې د خوب هر ټکے رښتیا کړي
اوس څوک دي چې خپل ځان رنځور اولس ته مسیحا کړي

اوس څوک دي بچي د چنګېز ځان پورې اخته کړي
اوس څوک دي چې خیالونه د مغلو غرغنډه کړي

اوس څوک دي چې په ضد د نفرتونو جهاد وکړي
اوس څوک دي چې په کور د پېرنګي کښې فساد وکړي

اوس څوک دي چې لاس یوسي د مزدور د بچي سر له
اوس څوک دي چې غم وکړي د دې خپل وطن نهر له

اوس څوک دي چې د امن او د ژوند معنیٰ یوه کړي
اوس څوک دي چې د دغه نیمګړتیا تاوان پوره کړي

مئين ټول اخته شوي دي د زرو په روزګار کښې
ايمان ترې خطا شوے دے په دغه کاروبار کښې

شاعره بختوره اوس دا هر څۀ ستا په سر دي
دا ځکه چې ستا فکر کښې معنې د روڼ سحر دي

فن کاره ستا هر خيال د دې نادار اولس امير دے
ګلګون زړګے دې ښايي چې ژوندے دا ستا ضمير دے

قدم واخله مونږ ټول درپسې نيغ صف کښې روان يو
لاليه مونږه ټول ستا د خيالونو قدردان يو

قدم پورته کوه هله سپرلے دې مبارك شه
شاعره د وطن لارې کوڅې دې مبارك شه
***





زۀ چينار يم ستا تر څنګ کوکې ولاړ يم
را چاپېر شه د انګور ځېلې ولاړ يم

ما د زلفو په وريځو کښې راټول کړه
زۀ دې اوس هم لا په سر سپوږمۍ ولاړ يم

ستا د حسن د سپرلي ګلونه غواړم
ما نيولے درته ده جولۍ ولاړ يم

ستا د مينې درنو څومره بلها درووند کړم
ړق را نۀ کړۀ د دوران سيلۍ ولاړ يم

اوس د خپل اقا د جبر سوال پوره کړه
تا ته وايم د صليب رسۍ ولاړ يم

څوك دې وايي کۀ هر څۀ وايي کامله
زۀ په مرسته چې د چنګ او نۍ ولاړ يم
۵م اپرېل ۱۹۹۴ء



Pukhto.Net

ګرد چې ستا د پلونو نه الوتے يم
ژوند پسې په هر ديار پرېوتے يم
خدا ے مې اسره کړے دے د لوړ همت
زهٔ د محبت په لټون وتے يم
طمع کښې مې نغښتې دعا راوړې ده
هر سحر د کوره چې راوتے يم
ځان مې په ځان ووژهٔ خو پوې نهٔ شوم
دا د کوم تهذيب بام ته راختے يم
غم د ځان اخستے وم په منډه تلم
اوس د عشق کوڅه کښې راپرېوتے يم
شپه پکښې کومه کهٔ کامل شمه
ستا د زلفو کور ته ننوتے يم
۲۹م مارچ ۱۹۹۴ء





مونږ ژوند زپلي خلق چې يو مينې زورولي
زمونږ د ګرېوانونو نه لاس نهٔ وباسي ښکلي
هغه اشنا چې زهٔ ئې د خپل زړهٔ له کوره وېستم
هغه خو ما اوس هم د خيال په سرو ګلونو ولي
دا يو د ژوند زيارت وهٔ هغه هم ستا په نامه شهٔ
نور وګرځوم تا مې د کوم کوم ارمان په څلي
اے وخته لا خو دا معرکه هم په سر پرته ده
مونږ چا يو د رنګونو د جنت نه را اېستلي
مونږ زړونه مونږ ځانونه په جانان داو ته دي ايښي
مونږ دومره بد نصيب يو چې مونږ هېڅ نهٔ دي ګټلي
دا څهٔ سپرلے دے خدايه په دې بې نومه وطن کښې
د هر يو ګل د مخ نه دي رنګونه تښتېدلي
رقيب دي څهٔ رازونه ښکاره کړي محبته
کامل دي څهٔ حالونه په اشعارو کښې وئيلي
۲۰م مارچ ۱۹۹۴ء

ګل نۀ شۀ زخمي زخمي پرهر ارمان
خاورې دې کړې باد راله په هر ارمان

يو نظر دې وکړۀ بل دې واړوۀ
لوبې راله وکړې په ځيګر ارمان

ستا د راتلو لارې څارل څۀ معنیٰ
شپه په طمع اور شي او سحر ارمان

اوس د دعا هر ټکے بې نومه شۀ
خدايه هم ښادي او هم اختر ارمان

ستا تصوير کامل زړۀ سره ونيوۀ
دلته کښې دمه وخوري اکثر ارمان
۱۴م مارچ ۱۹۹۴ء



Pukhto.Net



ما وې د محبت د خوږو کور کښې دېره کېږم
زۀ څۀ خبر وم خدايه چې به اور کښې دېره کېږم

د کرکې مغلې دستور له څنه سترګه وکړه
درځم درته د زړۀ په رتنبور کښې دېره کېږم

د ژوند د حادثو هنګامه هر طرف ته سره ده
له شوره ځان وباسمه په شور کښې دېره کېږم

دا شپه بايد خبر اوسي زما له تدبره
په سپينه رڼا ورځ پسې په تور کښې دېره کېږم

دا تور د بې وسۍ د ژوند له مخه ورانومه
کامله زوررورو سره زور کښې دېره کېږم
۱۴مه فروري ۱۹۹۴ء

زما زړهٔ ته ستا د سترګو خمار پرېوت
بس دا يو هنر مې روح ته سازګار پرېوت

ستا د زلفو په ځنګل کښې ئې لار وکړه
خيال مې ستا د روڼ جبين په بازار پرېوت

داسې پښه په پښه اوس ناست يمه بې کاره
چې څهٔ تندر مې د مينې په کار پرېوت

د سپرلي راتلهٔ خو هغه وخت شکمن شو
چې فساد مينځ کښې د ګل او د خار پرېوت

د رښا په تکل ځي کامل منزل ته
شپه پرې راغله او کهٔ نمر پرې په لار پرېوت
۱۴م جون ۱۹۹۴ء





بغېر له تا د ژوند په دشتو کښې مزل ګران دے
د ودرېدو کار هم جانانه يو په سل ګران دے

خبر دے کهٔ زهٔ پکښې ځاے نهٔ شمه خو ځاے دې نهٔ شم
په ما خو خيال ستا د مئينو د محفل ګران دے

ښه شوه چې چل د محبت مو اشنا زده دے ګني
په دې ماحول کښې خو د ساه اخستو چل ګران دے

تا د رقيب کور کښې دمه وکړه مونږ مرګ وليدهٔ
مونږ به ژوندي شو خو د دې مسئلې حل ګران دے

چې به وربل ئې قافيه نهٔ وي او سترګې رديف
کامله ما ته بې له دې زمکې غزل ګران دے
۱۳م اکتوبر ۱۹۹۳ء



Pukhto.Net
پښتو

# خیالي خیالي جانانه

د ښاغلي لعل بادشاه خیالي د شعري مجموعې "زېبرګي" د مخکتنې د
دستورې په موقع په ۷مه جولایی ۱۹۹۳ء کښې په کمیونټي کونسل هال
مردان کښې واورلے شۀ (کامل)

ګردش د فلك غېږه کښې نیولے یم یارانو
دې تریخ دور څو څو ځله وژلے یم یارانو
دستور د مغل وې چې ځان بائیللے یم یارانو
ما وې د انساني امن ښاغلے یم یارانو

ما وې زما وطن د سکندر د ارمان کور دے
مغل او پېرنګ دواړو وې زمونږ د پاره اور دے

ارمان مې راته ووې د زړګي د ور په وت کښې
تنګ شوے یمه نور د مرګ او ژوند په تفاوت کښې

ما وې چې اوس خو لږه موده پاتې ده سپرلي ته
دعا کوه د مینې د پښتون وطن لالي ته





وې مالګې مې د خوږ زړۀ په زخمونو څۀ له نولې
پېرنګ مې د زړۀ کور پرېښے دے ګرانه پولې پولې

او اوس د هغه تلې رقیب ځوي له لالي بوتلو
د خپلو نه ئې بیل کړو او پردي له لالي بوتلو

قیصه د کربلا کۀ خلق وایي چې ترخه ده
زما د کابل زمکه هم په دغه اور تاوده ده

مونږ دومره بدنصیب یو چې لوئېږو نو خرڅېږو
په شتۀ هر څۀ کښې هم په ټوك ډوډۍ پسې ړندېږو

ما وې ارمانه ستا تراخۀ ربښتیا اوربدل غواړي
خو نن زما خیالي خیالي اشنا هم ستائیل غواړي

دا ځکه چې ئې وې ما به په کوم انداز کښې ستایې
زما د محبت قیصې به څنګه څنګه وایې

وې تۀ هم د لفظونو د رنګونو جادوګر یې
وې تۀ هم د زخمي زړۀ د زېبرګو نه مې خبر یې

وې تهٔ هم د دړدونو د هنر په کار پوهېږې
وې تهٔ هم د دې ښکلو د نظر په کار پوهېږې

وې تهٔ هم لکه ما غوندې خپل ځان سره په جنګ یې
وې تهٔ هم د دې ارتې زمکې غېږ کښې بلها تنګ یې

وې تهٔ هم خپل ارمان ته د امېد سندرې وایې
وې تهٔ هم د منصور غوندې رښتیا خبرې وایې

وې تهٔ هم د روښان د انغري د اور سپرغے یې
وې تهٔ هم د خوشحال په لاره ګړنده زلمے یې

وې تهٔ هم د اېمل او د دریا په لار روان یې
وې تهٔ هم په خیال مست د خپل مئین ملنګ افغان یې

وې منم چې ستا ژبه هم رښې رښې پولۍ ده
وې منم چې خالي دې لکه ما د خیال جولۍ ده

دا هر څهٔ په خپل ځاے دي تول تراخهٔ حقیقتونه
ملګري زما میني له پیدا کړه څو لفظونه





ما وې زما خیالي خیالي جانانه خفه مهٔ شې
ما وې په ما له خپله ځانه ګرانه خفه مهٔ شې

ما وې چې ستا سندرې د الفت دي او خوږې دي
د نظم د لیکلو تجربې ډېرې ترخې دي

دا ځکه چې لا ویر دے او لا ساندې ساندې ژوند دے
زمونږ خو د غمونو سره لاندې باندې ژوند دے

ملګري خلقو[1] وګتهٔ د کوېت بچي له خوب
مونږ هغسې بائیلو په بې وسۍ خپل زلمیتوب

وریت شوے فلسطین دے کهٔ لمبه لمبه بغداد دے
دا ما ته داسې دي لکه چې ځنګ جلال اباد دے

د روس د ازادۍ خبره څومره چې خوره شوه
د امن د دعوې خرمن خیرنه شوه اوپره شوه

د دې کلي یارانو چې کامیاب هلته جهاد[2] کړهٔ
شبخانو[3] ئې حرم کښې هرکلے په زنده باد کړهٔ



Pukhto.Net پښتو

دا جشن چې د دوي د پاره غړ د خوشحالۍ وهٔ
ملګريه دا مونږه ته پېغور د نامردۍ وهٔ

اوس دا ځل به نعره کوم کۀ خبر وي مارګله کښې
دا شور به خورومه د امو چپه چپه کښې

هو زهٔ هغه پښتون يم چې له هېچا نهٔ ويرېږم
د سر سوداګرانو نهٔ ماتېږم نهٔ خرڅېږم

دا شور چې مې ځاے ونيسي رنګ راوړي خيالي جانه
يو ځل مې جنت جوړ شي د دې ښکلې پښتونخوا نه

زما خوږمن شاعره بيا هله به يو بل ستايو
قيصې د محبت به بيا هله يو بل ته وايو

۱. په کوېت د عراق د حملې نه پس د امريکايي فوځونو کوېت ته ننوتل
۲.د ډاکټر نجيب الله د استعفىٰ نه وروستو د جهادي ګوندونو حکومت جوړېدل
۳. د جهادي حکومت د سعودي عربستان په خانه کعبه کښې د سوګند دستوره

***





کۀ د هرې زاويې نه ورته ګورم
جانان څۀ دے خو د حسن غر ته ګورم
کۀ ازغنه ده کۀ اور ئې په دې سر دے
زهٔ د مينې د لار هغه سر ته ګورم
د ژوندون د راز قيصه به کوم ځم به
بس خو ستا دې يو مُسکي نظر ته ګورم
راته څۀ وايې چې ولې فکر يوړې
د ساقي د کرم پوري ور ته ګورم
اے يو څو قدمه اودرېږه دورانه
د پښتون کلي دې ښار ګودر ته ګورم
ستا راتلۀ به مې د خوب تعبير رښتيا کړي
په دا خيال د هرې شپې سحر ته ګورم
د راتللو نرخ ئې وينې د زلمو دي
حېران ځکه د سپرلي هنر ته ګورم
۱۳مه مئي ۱۹۹۳ء

ځم د محبت د قافلې په لور
ځان له جوړومه خپل وران شوے کور
تهٔ چې ورته فن وايې د لوے ادب
دا مې دے د مينې د سندرو شور
زهٔ چې ستا ښائست له زندګي غواړم
ياره کافر کېږمه په دغه تور
هغه چم مې وينې وينې پاتې شهٔ
دا چم خو به خامخا اوس اخلي اور
هلته کښې حيا لوپټه وبائيله
دلته بې وسي شوله د ژوند پېغور
ستا د زلفو شپه ځومره واورينه ده
تود مې کړه لږ غېږه کښې دې راکړه زور
ستا کامل ټکرې په ټکرې يم
را دې کړه په شونډو تاودو سرو ټکور
۲۱مه فروري ۱۹۹۳ء





يو ژوند د مرګ په کومې کښې بل مينې شوګيرې دي
دا دوه خبرې ډېرې زهرژنې دي ترخې دي

بوځي مو بې خطره د الفت د چم په لاره
جانانه ستا د سترګو داسې داسې اشارې دي

يوائې ستا د زلفو د مکان په لاره نهٔ يم
تهٔ ګوره د دوران د غم لښکرې راپسې دي

زمونږ کلي کښې راج دے د تيارو د بلاګانو
د ګل په شان ځوانۍ دلته کښې خاورې دي ايرې دي

کامله بس يو تهٔ يې چې په مينه کښې مخلص يې
بغېر ستا نه د هر چا په نيتونو کښې تيارې دي
وړومبۍ جولايي ۱۹۹۲ء



Pukhto.Net

ساندې وایو ویر کوو د ژوند د ځلي سر ته
څۀ سپېرۀ یو ځل مو چرته رانۀ غے نظر ته
شور شته، د جانان د راتلو غږ شته نۀ ښکالو شته
څۀ ووایم څومره موده پاتې ده اختر ته
زول د نفرتونو دے طوفان د بدنیتو دے
یه د امن لوے ارمانه خبر دې شه وزر ته
زۀ خو درته وایم سترګې ما پله راواړوه
تۀ هسې چتې خبره څۀ له بوځې شر ته
خلق پکښې ډېر دي خو د یو بل نه وېزار دي
خدا ے زده چې مې چا کړے ازار دے پېښور ته
ما باندې پېریان د چا د تورو زلفو ناست دي
ما بوځئ د کلي د رڼو اوبو ګودر ته
ما ته دې کامله خپل شعرونه وایه وایه
ما غوښتے ټکور دے د خپل خوږ زړګي پرهر ته
۳م اپرېل ۱۹۹۲ء





## ملګري څهره سازه

د یاد مصور/ارټسټ ښاغلي دیپك استاد سره د سحر نمانځې په دستوره کښې په ۵م اګست ۱۹۹۱ء پرېس کلب مردان کښې واورولے شۀ (کامل)

زما د مینې د خلوص د لارې مل ملګري
زما د درد په رشته خپله تخلیق کاره اشنا
مونږه په یو نوم پېژندے شو د بلها مودو نه
تا سره برش دے زۀ قلم لرم فن کاره اشنا

زۀ نغمه ګر یمه د سپورو زلفو اوچو شونډو
زۀ د انسان د تقدس سندرې هم وایمه
کۀ د ځان غم مې د احساس سترګو له نور ورکوي
خو د جهان د تقدس سندرې هم وایمه

زۀ هم د ژوند په دې تيارو کښې رنګينۍ غواړمه
زۀ هم د ګلو د مُسکا د سپرلي لارې څارم
زۀ هم په سر باندې ګېډې د الزامونو وړمه
زۀ هم ملګري لکه ستا د سپرلي لارې څارم

بلها موده وشوه چې وايمه د ژوند سندرې
خو کاڼۀ شوي د دې کلي نازولي دي ټول
ګني نو ما خو پکښې تور او سپين ته ونۀ کاتۀ
ما ته د امن په خاطر قسم دے ښکلي دي ټول

زما د درد خوږه ملګريه چې په دې ونۀ شوه
نو خپل شډل لاسونه وغوځوه برش راواخله
د خپل احساس د ائينې د مخ نه دوړې لر کړه
په کائنات فکرونه وغوځوه برش راواخله

د بې وسۍ په کېنوس داسې خاکه جوړه کړه تۀ
چې د مظلوم او د بې وسه د زړګي درزا وي
چې وي استائے د دې دور د ظلمونو د مرګ
چې د ژوندون تورې تيارې لره رڼا رڼا وي





داسې څهره جوړه کړه داسې فن کاري وکړه چې
د انساني قدرونو امن لره زېرے راوړي
چې د تقدير د وېش انصاف کښې ترې کمے ونۀ شي
چې خوشحالۍ هر غم زپلي لره ډېرې راوړي

دا تراړې شونډې داسې ومسکوه وخندوه
چې مونالیزه له حيا ورشي اوبۀ اوبۀ شي
کۀ څوك د ترږم باچا لور ورته وروګوري نو
چې د نظر نه ئې نور وتښتي بې زړۀ بې زړۀ شي

زما د فن ملګري داسې استاذي وکړه چې
ورته رنګونه له افقه ځنې وپسخېږي
چې د سراب د اوچو شګو پړق پرې هم وبرېښي
ورته سرخۍ څۀ د شفقه ځنې وپسخېږي

چې د کشمير په زړۀ راښکونکې سيمه هم وګرځې
ورله ذره ذره د خيال کچکول کښې حسن راوړي
چې د باګرام د ماښامي رنګينۍ هېرې نۀ کړې
چې د لوړ سوات نه د کمال کچکول کښې حسن راوړي



Pukhto.Net

زهٔ به دا خپله وینه هم په مینه درکړمه خو
چې د بې وسه انسان عکس درنه نیمگړے نهٔ شي
زهٔ به فکرونه ستا د فن گوتو ته ولگوم
زما د زړهٔ د ارمان عکس درنه نیمگړے نهٔ شي

دغه څهره چې ښه کامله نمونه وي د ژوند
دغه شاهکار چې ستا د زړهٔ د وینو رنگ وي پکښې
دغه تخلیق چې وي ستا روح او ستا د زړهٔ درزا وي
دغه تصویر چې د پښتون ناموس او ننگ وي پکښې

دا به د خپل کلي کوڅه کښې ولگوم
دا به د گل کلي کوڅه کښې ولگوم

دا به د نوي ژوند پیغام وي ستا د برش په ژبه
انسانیت ته به سلام وي ستا د برش په ژبه
***





دور سنگین دے دار له هاغسې دے
دلته د ژوند معیار لا هاغسې دے

کهٔ چا ته نهٔ وایو نو هم وو ایو
مرور مونږ نه یار لا هاغسې دے

بیعه شو، خرڅ شو خو لا پوهه نهٔ شو
د سرمایې بېوپار لا هاغسې دے

په دې خاطر چې به راوگورې تهٔ
تن کښې مې روح ایسار لا هاغسې دے

کامل خو ستا په خوښه هغه شانې
روان په هغه لار لا هاغسې دے
۹م جون ۱۹۹۱ء



Pukhto.Net

ستا په جبین چې د مُسکا څۀ اثر پاتې نۀ شۀ
زما د سترګو په ککو کښې اثر پاتې نۀ شۀ

په محبت مې دې یقین دے د خلوص تر حده
خو په وعدو مې دې جانانه باور پاتې نۀ شۀ

ما چې د خپل زړګي د زغم دروازې پرانستلې
غم دې یوې لحظې له هم تر بهر پاتې نۀ شۀ

تا چې د خپل حسن اختیار ورله په خپله ورکړۀ
بیا خو زما ستا د رقیب سره شر پاتې نۀ شۀ

چې پکښې نۀ ښکاري کامله ښکلے عکس د جانان
هغه پرهر خو بیا له سره پرهر پاتې نۀ شۀ
۳م جون ۱۹۹۱ء





خلوص کۀ ګورې یاره راشه مونږ ورځنې ډک یو
ولاړ چې لوڅ لغړ د محبت په لاره کلک یو
تاریخ سره دلیل څۀ دے زمونږ د ورکولو
راوتي چې د مینې د سپرلي په لوے درک یو
سحر به مو د نوي ژوندون زېرے وي کۀ خبر وي
یقین ته رسولے ستا د ناز او انداز شک یو
زغملي مو شي چرته د دې ښار پې مخي خلق
په دې چې مونږ د مینې د یو والي په مسلک یو
د یو وجود په څېر د یوې لارې لاروي یو
کۀ لر یو او کۀ بر یو یوسفزي یو کۀ خټک یو
کامله په یو ځان هم پښتانۀ بلا لښکر یو
په طمع د پردو، نۀ د ملاتړ نۀ د کومک یو
۴م مارچ ۱۹۹۱ء

Pukhto.Net

اوس به راته پښو کښې په منت منت سرونه ږدي
واړه رقیبان به مو په پلونو باندې پلونه ږدي
ورشه ورته وایه چې سپرلے رارسېدونکے دے
بیا دې ترې په زلفو کښې سحر ماښام ګلونه ږدي
دا ناوې د ژوند ، د هر ارمان د کور نیازبینه ده
وینه ورکوم ورله په زنه ترې خالونه ږدي
دا خو ډېر پخوا د محبت په تور تورنه ده
وخت خومره ساده دے چې په دې لمن داغونه ږدي
اے زړۀ چې شهید شوې دا خو لا ښه شوله شکر دے
خامخا منښتې به په دې زیارت اوس جونه ږدي
هر څو کۀ لوستل ستا د کامل د نورو چارو دي
مخې ته به څان له ستا د مینې کتابونه ږدي
۱۰م اګست ۱۹۹۰ء





## سهره

د ملګري اشرف عاطف د ښادۍ په مناسبت
۲۰م اپرېل ۱۹۹۰ء

احساس د نفرتونو په دنیا کښې ژوند ته ګوري
ضمیر لکه د بُت په غرېدلو سترګو چپ دے
قلم کۀ لکه توره وه اوس پسه ښکاري
خاوند د فکر و فن په ویرژړلو سترګو چپ دے
تقدیر هم د تدبیر په مرۍ غلے دے مُسکے دے
دوران هم لکه مړ په دم ختلو سترګو چپ دے
دې زړۀ ته مې بلها ننګونه ودرول ملګرې
بیا هم لکه د خوړ نظر په غلو سترګو چپ دے

اوس تۀ فېصله وکړه چې اوس څنګه به څۀ لیکم
زما نه خو حالاتو خدا ے شته یو او دوه خطا کړل
دستور زمونږ د کلي لا هم هغه پخوانے دے
له دې وجې مئینو دیدنونه خپل قضا کړل

دوي سوچ د خندا نهٔ کړي خو څهٔ بند د ژړا ګوري
دې دهر ئې د فکر نه هر څهٔ دي جدا کړي
دا هر څهٔ مې يو ډډې ته له خپله ذهنه کښېښول
زخمونه مې د زړهٔ دي په هر حال په خندا کړي

منم چې دا موقع ستا د ښادۍ د خوشحالۍ ده
منمه چې ملګري خوشحالۍ به کول غواړي
ملګري روايت به ماتول وي د همونو
د يو بل نه ځانونه به رښتيا ځارول غواړي
قابل به ئې ملګري د بلها عقتيدتونو
د سرو ګلونو هار به درته هم اچول غواړي
درېدونه چې سندرې شي وئيل به ئې پکار وي
نغمې به د ژوندون په سُر رباب اړول غواړي

وريت فکر غرغنډې وهي لمبه لمبه ماحول دے
په دې کښې به خلهٔ څنګه د خندا په نيت خورېږي
وهمونو په ذهنونو کښې دي جالې جوړې کړے
په دې کښې به نو څنګه څوك د يو بله ځارېږي

ارمان به ستا د هار شي په ورشو د زړهٔ غندلې
دا ځکه چې ګلان خزان وهلي دي رژېږي





درېدونه هم بلها سندرې شوي دي په زړهٔ کښې
ګنډلے شونډې څنګه به پرانېزم چې غوښېږي

دې هر څهٔ ته به ګرانه خپل ځانونه لېوني کړو
دې وخت له به خندا چرته په زوره زوره راوړو
وهمونه به د پوهې سمندر ته ورلاهو کړو
مستي او خوشحالي به ګله ستا تر کوره راوړو
ګلان کهٔ ستا د هار د پاره نهٔ وي په ګلشن کښې
د سرو وينو رنګونه به د هره لوره راوړو
شړنګا د زنځيرونو به سازونه ترانې کړو
زندان د زندګۍ نه به نغمې د شوره راوړو

درنه به ستا ښادي کړو مونږ په سر سترګو ملګري
پروا نشته کهٔ وخت نولي تاودهٔ د اور بخري

***

Pukhto.Net

حالات نا اعتباره دي ملګرو پسې ځو
ورکېږو کۀ د خلقو په خبرو پسې ځو
هغه چې د سپرلي د هر کلي مخې له زغلي
هم هغه د رنګونو سخنورو پسې ځو
راځه قدم راواخله ما نۀ مۀ ويرېږه ياره
قسم دے کۀ د وخت په جادوګرو پسې ځو
راځه تۀ به ترې هم جانانه ډکه جولۍ راوړې
د حسن د خالونو ملغلرو پسې ځو
شپه هم ده او ملګري رانه هم دي لرې تلي
شړنګا د زولنو اورو سندرو پسې ځو
په دار باندې خاتۀ چې د ځوانۍ مشغولا بولي
مونږ هغه ليونو هغه خود سرو پسې ځو
مونږ هغه پښتانۀ يو د دې دور چې کامله
ځان وژنو خو د پلار نيکۀ دوترو پسې ځو
۱۸مه فروري ۱۹۹۰ء





چې مئين دې په دانه وانه وربل شوم
دا دعویٰ مې اوس په ځاے ده چې غزل شوم

دا خو پېژني په دې مې عالم ځکه
چې د دور زولنو کښې الوول شوم

ما د درد لښکرې ځان پسې قطار کړې
ستا د مينې له محفله چې معطل شوم

ستا د سترګو د مقتل په لور چې تګ وۀ
د هر چا نه پکښې لاړمه اول شوم

يو نيمګړے غوندې خيال د محبت وم
اوس کامل شومه چې ستا نوم سره مل شوم
۴مه فروري ۱۹۹۰ء

تارونه د غم سُر شو په رباب د زندګۍ
حالت به دې ته څوك وايي خراب د زندګۍ

احساس باندې اور ولګېد شعور لمبه لمبه شۀ
جانانه پاڼې پاڼې شۀ كتاب د زندګۍ

ګناه مې وظيفه كړه ستا د سترګو په حرم كښې
تۀ غواړه مكېده كښې تل ثواب د زندګۍ

يارانو څۀ به وايمه چې كومه فلسفه ده
خپل زړۀ چې رانه وغوښتۀ جواب د زندګۍ

وعدې پكښې نيمګړې ارمانونه هم نيمګړي
پاڅۀ برجونه هم يوړل سېلاب د زندګۍ
۲م جون ۱۹۸۹ء





داسې اشنا هم لري څنګ چې زمانه انداز
ګوري زما لوري ته ډېر په بېګانه انداز

خوب ئې ورله راوستۀ څومره منظم وۀ ساز
دا د لېونو زنځير دغه ترانه انداز

خلاص ئې كړۀ مړوند په چل ورو ئې شونډې بېرته كړې
وې وئيل چې ځمه اوس څۀ په شاهانه انداز

شۀ ګوته په خلۀ منصور ډېر ئې حېران وكتل
هر پښتون چې دار لره تۀ په مستانه انداز

زړۀ چې ورته خپل كامل ونيو د كچكول په رنګ
ور ئې كړۀ اخلاص باندې غم په شكرانه انداز
۱۱مه جنوري ۱۹۸۹ء

ښکلي جرګه شول وارئې خطا شهٔ
یو بل ته وایي کامل بوډا شهٔ

عمر ئې هسې بې معنې تېر کړهٔ
دے نهٔ د دین شهٔ نهٔ د دنیا شهٔ

څهٔ معمه ده پېژند ګلو ئې
څوك پرې شېدا شو په چا شېدا شهٔ

جوړه ئې نهٔ شوه وخت سره ګوره
له هغه وخته چې دے پېدا شهٔ

کامل چې خداے زده څنګه سړے دے
نهٔ څوك د دهٔ شو نهٔ دے د چا شهٔ

***





درد به زما د رقابت حقیقت یاد ساتي
لکه هغه چې اوس زما محبت یاد ساتي

زما د سترګو نه راوتې لمبې نهٔ شي لیدے
د خپلو سترګو لېونے شرارت یاد ساتي

څوك به زما غزل په سُر او په تال هم واړوي
څوك به په ما دا تېرېدونکے قیامت یاد ساتي

ما له راکړې اذیت ئې خوب له سترګو وړي
زما ورکړے احترام او عزت یاد ساتي

کامله ښکلي ته دې څهٔ ووې د شعر په ژبه
خلق به ټول عمر هم تا ملامت یاد ساتي

***

Pukhto.Net پښتو

ستا ارمان به خداے پوره کړي زۀ به مړ شم
سر بازي خو سر لوړي ده لا به لوړ شم

د ځوانۍ خوارۀ د مينې په بدل دي
کۀ يو ځل دې د کوڅې په خاورو خړ شم
۷م اپرېل ۱۹۹۸ء

د حسن د جادو جادو نظر ادا به ستايو
پولۍ پولۍ ناسور ناسور ګوګل به ورته ښايو

سپرلے کۀ د دې کلي په کوڅو باندې راپېښ شۀ
يارانو د دې ښکلو ناروا به ورته وايو
۱۱مه جنوري ۱۹۹۰ء





ستا خبرې لا جواب دي
هو زما مازغۀ خراب دي
دلته مينې هم د ښکلو
په حساب او په کتاب دي
محبت چې ئې روزګار وۀ
اوس هغه خلق ناياب دي
د خوشبو طمع به څۀ کړو
قحط شوي چې ګلاب دي
۲۵مه مئي ۲۰۰۵ء

ژوندون چې غوارم د مزو خلقه
کرښې راکارم په اوبو خلقه
د يوې بلې ګناه لاره نيسم
ورد چې کومه د توبو خلقه
ما د ساقي د کور په مينځ کښې ښخ کړئ
اے د تقویٰ اے د تسبو خلقه
۲۰م جون ۲۰۰۵ء

Pukhto.Net پښتو

د ژوند له تجربو استفاده کولے نۀ شو
تر څو چې غلامان يو هېڅ فائده کولے نۀ شو

بې حسه يو، بې خونده يو، وعدې به څۀ وفا کړو
له مخه د يو کار چې اراده کولے نۀ شو
۹م اکتوبر ۲۰۰۷ء

کۀ د وهمونو له حصاره راوتے نۀ شمه
يقين دے وشه چې په ژوند دې هم ژوندے نۀ شمه

تۀ به راځې زۀ به دې مخې له درو نۀ وځم
پښې مې دې ماتې شي چې زۀ پرې ګرندے نۀ شمه

تۀ د اختر مياشت يې ليدو ته دې اودرېږي خلق
خو زۀ درګورم ځکه نه چې لېونے نۀ شمه
اول ستمبر ۲۰۰۷ء





حادثې دي چې رادرومي
کرب راوړي او زړۀ مې شومي

غم زما سره خوشحال دے
لکه ما به بل څوك مومي
۱۹م جون ۲۰۰۸ء

ساندې په نغمو کښې پېټوو سندرې وايو څو
درد په څۀ بهانه قلاروو سندرې وايو څو

هر څوك راته ګوري په لېواله لېوني نظر
خپلې غوټې شونډې خندوو سندرې وايو څو
۱۲م اګست ۲۰۰۹ء

Pukhto.Net

د حسن پلوشې د نظر تاب غواړي جانانه
ستا سترګې مې د سترګو نه جواب غواړي جانانه

بیلتون دې لېونو سره هم روغ په لاره نۀ ځي
بیلتون دې په ما بل شانې عذاب غواړي جانانه
۱۹مه جنوري ۲۰۱۰ء

هر خوا چې ځمه خپلې پښې په دهشتونو کښې ږدم
د پټاخې په ډز هم ګوتې په غوږونو کښې ږدم

علم دوستي ده په میراث کښې پاتې شوې راته
لولم ئې نه خو کتابونه په تاخونو کښې ږدم
۳۰مه مئي ۲۰۱۰ء





تندے مې تور دے خو په سر کښې مې رڼا ډېره ده
د زړۀ په کور کښې مې خلوص، مینه، وفا ډېره ده

زما په خلۀ کښې د شعرونو دردانې پرتې دي
تۀ چې ښائسته ئې نو په خلۀ کښې دې بلا ډېره ده

زۀ او تۀ دواړه به یو ځاے شو چرې، یو به شو مونږ
ناشونې نۀ ده خو په مینځ کښې مو خلا ډېره ده
۱۳م جون ۲۰۱۰ء

له ما نه دې کړې هېرې په سندرو کښې خبرې
جانانه جوړوې چې په خبرو کښې خبرې

یو دغه سړے سم ښکلے مثال د محبت دے
زما په حقله کېږي په ملګرو کښې خبرې
۲م جون ۲۰۱۱ء

Pukhto.Net

زمونږ تر مینځ خبرې ډېرې هم شوې
زما نهٔ څهٔ خبرې هېرې هم شوې

څهٔ تصور د ژوندګۍ باقي دے
څهٔ زمانې وې لاړې تېرې هم شوې
۱۲م جون ۲۰۱۱ء

نهٔ مو دلته د جاګیر کړے هوس دے
نهٔ مو هلته د بنګلو ارمان په زړهٔ شته

د کامل خبره نوره ده عالمه
څهٔ به غواړي چې ئې خپل جانان په زړهٔ شته
۲۲م اکتوبر ۲۰۱۱ء





زړهٔ درته څهٔ ووې چې څهٔ به کوې ما نه بغېر
په ما یوه لمحه هم نهٔ تېرېږي ستا نه بغېر

ما ته دا خپلې تجربې ووې هم دغسې ده
په محبت کښې خوارهٔ نشته له هجرانه بغېر
۱۸م مارچ ۲۰۱۲ء

کهٔ اجازت وي ستا په غېږه کښې به سر کېږدمه
نن به انکار د غمازانو په ټټر کېږدمه

تهٔ کهٔ پرې پښې ږدې کهٔ پرې لاس د محبت راکاږې
زهٔ به ډالۍ د خپلو سترګو ستا په در کېږدمه
۲۰م مارچ ۲۰۱۲ء



Pukhto.Net

په ډوبه خاموشۍ کښې هم يو شور راته ودرېږي
په تکه توره شپه کښې ستا انځور راته ودرېږي

کۀ ستا د پاره پايم نو په تا باندې شېدا يم
چې ستا د پاره نۀ مرم نو پېغور راته ودرېږي

ژوندون چې د دې کلي په کومه يو لوري لاړۀ
په کومه لار چې ځم د مړي کور راته ودرېږي
۱۵م ستمبر ۲۰۱۳ء

د درد لمحې کۀ مې نوحې نۀ کړې نو مړ به شمه
کۀ مې دريادې ستا وعدې نۀ کړې نو مړ به شمه

بل خو مې يو هنر هم زده نۀ دے د ژوند د پاره
بلې په ځان کۀ مې لمبې نۀ کړې نو مړ به شمه

په ما درانۀ راغورځوه پکښې خوشحاله يمه
د زلفو شپې کۀ دې درنې نۀ کړې نو مړ به شمه
***





کاکا خپله نازو دې پنجابي له څۀ له ورکړه
کاکا تا له به بَت اوس د شملې نه څوك وباسي

په دې خبره هم د پښتنو اتفاق نشته
چې دوي به د نفاق د تورې شپې نه څوك وباسي
***

د هجران لمبو ئې سوے زړګے نۀ وۀ
لکه اوس چې ځنګه دے داسې دے نۀ وۀ

دا احساس به دې بيا وژني لېونيه
چې کامل بې مُرَوته سړے نۀ وۀ
***

Pukhto.Net

بې کوره يم، د خوب ګولۍ چې وخورمه لږ ښۀ شم
دا زهر چې مې ورسي وجود ته نو اودۀ شم
*

اے ستا نه شه قربان زما ځان، زما زړۀ
يو ستا د پاره ياره درست جهان زما زړۀ
*

دا ګل چې وښنم بې خودۍ سره به چل کومه
د غورځېدو په ځاے به ستا په لوري زغل کومه
***

څۀ خوشګوار موسم دے څومره مزيدار موسم دے
د ياراني د پاره راشه کنه يار موسم دے
***